# د ۸ صبح

د پرون روایت ◆ دنن هینداره ◆ دسبا زېرى

## پښتو مجله

لومړی کال ◆ ٤٦ مه گڼه ◆ شنبې، د ۱۴۰۰، د چنگاښ ۵مه نېټه ◆ بيه ۲۰ افغانۍ



**امریکا ته د ولسمشر محمد اشرف غني دوه ورځنی رسمي سفر؛ هیلي او ننگونې!**

ولسمشر غني د یوه لوړپوړي دولتي پلاوي په مشرۍ د امریکا متحده ایالتونو پلازمېنې واشنگټن ته ورسېد.

تمه ده په دې سفر کې افغان ولسمشر د امریکا له ولسمشر، د کانگرس له غړو او یو شمېر لوړپوړو چارواکو سره په کتنه کې د افغان سولې، د بهرنیو ځواکونو د وتلو او د امریکا – افغانستان د ډیپلوماتیکو اړیکو په اړه خبرې اترې وکړي.





۸ صبح
د پرون روایت | د نن هینداره | د سبا زیری



# د بشري حقونو کمېسیون:
# نړیواله ټولنه دې د جګړې د پای ته رسولو لپاره هڅې وکړي

**د ۸صبح پښتو مجله**

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون، له نړیوالې ټولنې، سازمانونو او د افغانستان پر جګړې او سولې له اغېزناکو کورنیو او بهرنیو بنسټونو غوښتي، مخکې له دې چې په هېواد کې رواني وژنې، ورانۍ او ناخوالې د لازیاتو انساني غمیزو لامل شي له خپلو ټولو امکاناتو، فرصتونو او ظرفیتونو څخه د تاوتریخوالي او جګړې د پای ته رسولو لپاره کار واخلي. دغه کمېسیون د چنګاښ په لومړۍ نېټه د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره د افغانستان د جګړې له ښکیلو لوریو غوښتي چې د افغانانو کړاوونو، ستونزو او ناخوالو ته په پام سره او د جګړې او تاوتریخوالي د پای ته رسولو په هکله د هېوادوالو غوښتنو ته په درناوي دایمي اوربند وکړي او خبرو ته سره کښېني.

ددغې خبرپاڼې په یوه برخه کې ویل شوي: «د افغانستان د جګړې لوري به په هر ډول شرایطو کې د جنګي جنایتونو او له بشري حقونو او نړیوالو بشردوستانه حقونو د سرغړونې په اړه مسوول وي.»

که څه هم د افغان دولت او طالبانو د مرکچي پلاوي له خوا د مذاکراتو پر دوام ټینګار کېږي، خو د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې جګړې زور اخیستی دی او هره ورځ د طالبانو له خوا د ولسوالیو د سقوط رپوټونه ورکول کېږي. له بلې خوا، د افغانستان د امنیتي ادارو مسوولین ددغو سیمو د بېرته نیولو لپاره د هڅو خبر ورکوي. ددې ترڅنګ، د هېواد په شمالي او یو شمېر نورو سیمو کې ولسي وګړي د افغان دولت په ننګه وسله وال شوي دي. په وروستیو ورځو کې د هېواد په شمال او مرکزي سیمو کې سلګونه کورنۍ هم د جګړو له امله بې ځایه شوې دي. په دې لړ کې د چارو شنونکي دا پوښتنه مطرح کوي، دا چې یو ځل بیا خلک وسله وال کېږي نو هغه میلیونونه ډالر چې د ډي ډي آر او پي آر آر په نوم د وسلو راټولولو پر پروګرامونو لګول شوي د څه لپاره و، همداراز له ملکي خلکو سره د دومره زیاتو وسلو په لرلو سره به مرکزي حکومت څه ډول پیاوړی شي. د دفاعي او امنیتي ځواکونو د ملاتړ په پار وروستي پاڅونونه د کمزوري مدیریت له امله ښایي چې نوی ناورین او ګډوډي رامنځته کړي او خدای مکړه چې ځینې پخواني جګړه مار او ټوپک وال د خپلو پلویانو په مټ د کورنیو جګړو په څېر یو ځل بیا د سیمې د استخباراتو د ناوړه موخو په لټه کې نه شي.

نو دغو اندېښنو ته په پام سره بایده دي چې حکومت روان کړکېچن وضعیت کنټرول کړي او پرې نه ږدي چې یو شمېر نامسووله وسله وال او شر اچوونکي له دغه وضعیته د خپلو شخصي ګټو لپاره کار واخلي.

# لیکلړ


- د افغانستان او امریکا د مشرانو کتنه؛ بایډن به غني او عبدالله ته څه ووایي؟ ... ۱
- ولسمشر غني له سیاسي او جهادي مشرانو سره مشورتي ناسته وکړه ... ۲
- د ترکیې، ایران او افغانستان د بهرنیو چارو وزیرانو درې اړخیزه ناسته ... ۳
- د افغانستان په اړه د پاکستان د بهرنیو چارو د وزیر څرګندونې ... ٤
- د سرحدونو چارو وزیر، د قریشي څرګندونې د افغانستان کې... ... ۵
- د سهراب عظیمي مړینه؛ د چا زامن وژل کېږي؟ ... ٦
- ملي دفاع وزارت: په ۲۴ ساعتونو کې ۲۳۴ طالبان وژل شوي دي ... ۹
- لنډۍ ... ۱۰
- مریدنامه ۲۹ ... ۱۱
- امریکا له کډوالو د ملاتړ په موخه د افغانستان له ګاونډیو سره همکاري کوي ... ۱۲
- هندي چارواکو د لومړي ځل لپاره په دوحه کې له طالب مشرانو سره وکتل ... ۱۳
- حکومت زموږ او نور کارونه د تقدیر دي ... ١٤
- په هېواد کې د کورونا ویروس د درېیمې څپې پراخېدل ... ۱٦
- ابراهیم رییسي د ایران ولسمشر شو ... ۱۷
- د خوست هوایي ډګر ته لومړنۍ نړیواله الوتنه ترسره شوه ... ۱۸
- په ننګرهار کې د غواګانو دولتي فارم د ورځې ۴۰۰ لېتره شیدې تولیدوي ... ۱۹
- د وتلي سیاستوال عثمان کاکړ مرموزه وژنه او غبرګونونه ... ۲۰


د امتیاز خاوند: سنجر سهیل
مدیر مسوول: مجیب مهرداد
د کتنپلاوي تر نظر لاندې:
د کتنپلاوي مشر: م. ظ. صمیم
مرستیال: محمد عزیز پردېس
خبریالان: احمد شاه شاداب
زمان سهیل او نیاز الله اصیل
دیزاین: غ. رضا مجیدي
پته: قلعه فتح الله، کابل، افغانستان

0700175510 - 0788788799
www.8am.af
shaparsepehr@gmail.com
Taimani/Qala fatullah, Kabul, Afghanistan
www.facebook.com/8am.af
www.instagram.com/8am.af

# د افغانستان او امریکا د مشرانو کتنه؛ بایډن به غني او عبدالله ته څه وایي؟

**◆ د ۸صبح پښتو مجله**

ولسمشر غني او عبدالله عبدالله په داسې حال کې امریکا ته سفر کوي چې په افغانستان کې د افغان دولت او طالبانو ترمنځ سخته جگړه روانه ده. په دغه جگړه کې هره ورځ د طالبانو له خوا د ولسوالیو د سقوط خبرونه ورکول کېږي او افغان دولت هم د دغو سیمو د بېرته نیولو لپاره د هڅو خبر ورکوي. که څه هم افغان دولت تراوسه د سیاسي اجماع په رامنځته کولو نه دی بریالی شوی او د دولت عالي شورا چې د هېواد د پرېکړو لوړه مرجع ده هغه هم تراوسه نه ده جوړه شوې. دغه وضعیت ته په پام سره امریکا د افغانستان د راتلونکي په اړه اندېښنه لري. ددغه هېواد چارواکي په دې اند دي که د افغانانو ترمنځ مذاکراتو کې بندون مات نه شي، افغانستان به یو ځل بیا له کورنۍ جگړې سره مخامخ شي چې ناوړه پایلې به ولري. له همدې امله امریکا هڅه کوي چې دولت او طالبان د خبرو له لارې د یوه ټول گډونه حکومت جوړولو ته وهڅوي.

په افغانستان کې کورنۍ جگړه د امریکایانو لپاره دوې احتمالي پایلې لرلی شي، لومړی د ترهگرو ډلو بیا فعالیت چې د امریکا گټې او ملي امنیت له خطر سره مخامخ کولی شي او دوهم په افغانستان کې د تېرو دوو لسیزو د گډو لاس ته راوړنو په تېره بیا د بشري حقونو، د ښځو او لږکیو د حقونو ترپښو لاندې کول، چې دا دواړه پایلې د دغه هېواد لپاره د اندېښنې وړ دي.

د امریکا هڅه دا ده چې د جگړې دواړه لوري د سولې او یوه ټول گډونه دولت د جوړولو لپاره معنی لرونکو مذاکراتو ته حاضر کړي، ځکه د امریکا په اند، د ټول گډونه دولت د جوړولو لپاره د دواړو لوریو هوکړه د افغانستان د ستونزو د حل او د تاوتریخوالي د پای ته رسولو یوازینۍ لار ده، که داسې ونه شي امریکا به په افغانستان کې له تازه ننگونو سره مخامخ شي. امریکا چې له افغانستانه د وتلو په حال کې ده، داسې فکر کوي چې په افغانستان کې بې القاعدې او ترهگرۍ ته ماته ورکړې او د واشنگټن په اند په هېواد کې روان تاوتریخوالی کورنۍ جگړه ده چې د پای ته رسولو لپاره یې باید کورنۍ حل لاره پیدا شي. له دې امله ترجېح ورکوي چې په مستقیمه توگه په جگړه کې ښکیل نه شي.

د امریکا په باور افغانستان ته یې بیا راستنېدل ډېر لگښت لري او په دې پوهېږي چې په روانه جگړه کې یې مستقیم رول لرل د سولې او ټیکاو د رامنځته کېدو لامل نشي کېدای. له همدې امله هڅه کوي چې د افغانستان د ستونزو د اواري لپاره د ډیپلوماسۍ د ماتې مخنیوی وکړي.

طالبانو له امریکا سره د دوحې تړون په چوکاټ کې له افغان دولت سره مذاکرات پیل کړل. خو په دغو خبرو کې دومره پرمختگ نه دی شوی؛ خو له امریکا سره ددغې ډلې هوکړې ته د طالبانو د ژمنیتا یوه نښه بلل کېږي. د دوحې د هوکړې په چوکاټ کې د مذاکراتو د دوام لپاره د طالبانو چمتووالی هم د امریکا په اند دغه تړون ته د دې ډلې د ژمنتیا نښه ده.

اټکل کېږي چې د افغانستان د راتلونکي په اړه د امریکا نظر به د بایډن له خوا له ولسمشر غني او عبدالله سره شریک شي. ښایي د امریکا ولسمشر افغان مشرانو ته سپارښته وکړي چې د سولې مذاکراتو بهیر گړندی او په وړاندې یې ټول خنډونه لیرې کړي. امریکا به په هېڅ ډول له افغان دولت سره د جگړې د دوام په برخه کې له کوم شرط پرته همکاری ته دوام ورنه کړي.





# ولسمشر غني له سیاسي او جهادي مشرانو سره مشورتي ناسته وکړه

◆ د ۸صبح پښتو مجله

د هېواد ولسمشر محمد اشرف غني د غبرګولي په ۳۱مه نېټه له یو شمېر سیاسي او جهادي مشرانو سره مشورتي ناسته ترسره کړه. په دغه ناسته کې امریکا ته د ولسمشرغني او عبدالله عبدالله د سفر او همدارا ز د سولې بهیر او له افغان امنیتي ځواکونو د ملاتړ په اړه بحث او خبرې وشوې.

په دغه ناسته کې چې د ارګ په چهارچنار ماڼۍ کې وشوه. د ملي روغې جوړې د عالي شورا رییس عبدالله عبدالله، د ولسمشر دوهم مرستیال محمد سرور دانش، د ولسي جرګې رییس میررحمان رحماني، مخکیني ولسمشر حامد کرزي، جهادي مشر عبدرب الرسول سیاف، په سیاسي او امنیتي چارو کې د ولسمشر سلاکار محمد محقق، د اسلامي وحدت ګوند مشر محمدکریم خلیلي، جهادي مشر محمد اسماعیل خان، د ولسمشر پخواني مرستیال محمدیونس قانون، د ملي روغې جوړې د عالي شورا لومړي مرستیال عنایت‌الله بابر فرهمند، د مشرانو جرګې رییس فضل‌هادي مسلم یار او یو شمېر نورو سیاسي شخصیتونو ګډون کړی و.

د ارګ د اعلان له مخې، د ناستې برخوالو ټینګار کړی چې د سولې بهیر د افغانستان د اسلامي جمهوریت لومړیتوب دی او په دې بهیر کې به ټول نور ګامونه په تفاهم او لازمه اجماع سره پورته کېږي.

په دغه ناسته کې ټینګار شوی چې واحد صف او قوي اجماع د سولې او ثبات د ټینګښت، د جمهوري نظام د پیاوړتیا او د هېواد له دفاعي ځواکونو د ملاتړ لپاره اړینه چاره ده او باید له جمهوري نظام څخه له پیاوړي ولسي ملاتړه د ثبات د راوستو په موخه ګټه پورته شي.

ولسمشرۍ دفتر وایي چې په دغه ناسته کې امریکا ته د ولسمشر د سفر په اړه هم بحث وشو او دا سفر د اهمیت وړ بلل شوی دی.

د ناستې په پای کې ټینګار شوی چې د یووالي او سیاسي اجماع د لاپیاوړتیا لپاره باید دا ډول ناستې دوام وکړي.

# د ملګروملتونو په امنیت شورا کې د افغانستان د وضعیت ارزول



◆ د ۸صبح پښتو مجله

د ملګروملتونو امنیت شورا د چنګاښ په لومړۍ نېټه په یوه ناسته کې د افغانستان امنیتي وضعیت ارزولی دی. د بهرنیو چارو وزارت د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره اعلان وکړ چې د ملګروملتونو سازمان د امنیت شورا غړو په دغه ناسته کې ټینګار کړی چې د طالبانو امارت منلو نه دی او نړیواله ټولنه یې له راستنېدو ملاتړ نه کوي.

د امریکا، بریتانیا، استونیا استازو، د افغانستان لپاره د ملګروملتونو سازمان د عمومي منشي ځانګړې استازې او د هېواد د بهرنیو چارو وزیر محمد حنیف اتمر په دغه ناسته کې ویناوې وکړې.

د بهرنیو چارو وزارت د اعلان له مخې، د ملګروملتونو سازمان د امنیت شورا غړو پر ښوونځیو، په بغلان کې د مین پاکې موسسې پر کارکوونکو او د هېواد په نورو سیمو کې پر ملکي وګړو وروستي بریدونه په کلکه غندلي دي. د ملګروملتونو امنیت شورا په دې ناسته کې له افغان دولت او امنیتي او دفاعي ځواکونو او همداراز د تېرو دوو لسیزو له لاس ته راوړنو خپل ملاتړ اعلان کړی دی. د افغانستان لپاره د ملګروملتونو ځانګړې استازې ډیبرالاینز د دغه سازمان د امنیت شورا په ناسته کې ویلي: «د افغانستان انعطاف منل په کلکه د آزموینت په حال کې دي او د یو شمېر ناوړه سناریوګانو په لور د تللو احتمال هم شته.» لاینز دغې شورا ته خبرداری ورکړ، هغه څه چې په افغانستان کې پېښېږي، نړیوالې پایلې لري او د ملګروملتونو امنیت شورا باید په دې هېواد کې له شرایطو خبره وي. هغې د دغې شورا له غړو هېوادونو وغوښتل چې په سخاوتمندانه توګه له افغانستان سره بشردوستانه مرسته وکړي. د افغانستان لپاره د ملګروملتونو ځانګړې استازې د امنیت شورا په ناسته کې زیاته کړه: «زه د افغانستان خلکو ته ډاډ ورکوم چې د ملګروملتونو سازمان به دوی یوازې پرې نه ږدي او خپل کار ته به دوام ورکړي.»

د هېواد د بهرنیو چارو وزیر محمد حنیف اتمر، په دغه ناسته کې وویل چې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو له پیله طالبانو ډلې تاوتریخوالی زیات کړی دی. د اتمر په وینا، طالبانو له ترهګرو ډلو سره اړیکې نه دي پرې کړې او له څو میاشتو راهیسې یې په معنی لرونکو مذاکراتو کې هم ګډون نه دی کړی.

د ملګروملتونو سازمان د امنیت شورا غړو په دغه ناسته کې د سولې د رغنده مذاکراتو پر پیلېدو چې د اوربند او دایمي سولې د راتلو لامل شي ټینګار وکړ.

# د ترکيې، ايران او افغانستان د بهرنيو چارو وزيرانو درې اړخيزه ناسته



◆ د ۸صبح پښتو مجله

د افغانسـتان، ترکيـې او ايـران د بهرنيـو چـارو وزيرانـو پـه درې اړخيزه ناسـته کـې د سـولې پر ټينگښـت، لـه ترهگرۍ سـره پر گـډې مبارزې او پـه افغانسـتان کـې د جگـړې د پـای تـه رسـولو لپاره د سـيمه ييزې او نړيوالـې اجمـاع پـه رامنځتـه کولو خبـرې وکړې.

د هېـواد د بهرنيـو چـارو وزارت وايي، محمد حنيف اتمر په دغه ناسـته کـې چـې د غبرگولـې پـه ۳۰مه نېټـه د ترکيـې پـه آنتاليا سـيمه کې جـوړه شـوه لـه خپـل ترکـي سـيال مولود چـاووش اوغلـو او د ايران د بهرنيـو چـارو لـه وزيـر محمد جواد ظريف سـره پـه گډو مسـايلو خبرې اترې کـړې دي.

اتمـر پـه دې ناسـته کـې پـه ډاگـه کـړې، چـې پـه افغانسـتان کـې د جگـړې د پای ته رسـولو او د سـولې د ټينگښـت لپاره سـيمه ييز ملاتړ او همکاريـو تـه اړتيا ده.

هغـه زياتـه کـړې، د کورنـۍ اجماع تـر څنگ په افغانسـتان، سـيمه او نـړۍ کـې د ترهگـرۍ د لـه منځه وړلـو لپاره د سـيمه ييـزې او نړيوالې اجماع پياوړتيا يوه اساسـي اړتيا ده.

حنيـف اتمـر همـداراز، لـه افغانسـتانه د ناټـو ځواکونو وتل پـه هېواد کـې سياسـي هوکـړې او سـولې تـه د رسـېدو لپـاره ځانگړې فرصت بللـی دی.

هغـه پـه ډاگـه کړې چې ايران او ترکيه دې د پاکسـتان، روسـيې، قطر او هنـد تـر څنـگ پـه افغانسـتان کـې د سـولې د برياليتـوب لپاره لـه خپـل اغيـزه کار واخلي.

لـه بلـې خـوا، درې واړو لوريـو پر اوربند او د سـولې بهير پـه برياليتوب او د آزاد او ديموکراتيـک افغانسـتان پـه جوړولو کـې ددغو هېوادونو پر اغېزنـاک رول ټينگار کړی دی.

په دې ناسـته کې ترکيې، ايران او افغانسـتان د سياسـي او اقتصادي همکاريـو پـر پياوړتيـا پـه ځانگړې توگـه د گـډو سـيمه ييـزو پـروژو پـر عملـي کولـو، د ترهگـرۍ او پـلان شـويو جرمونـو پرخـلاف د گـډې مبـارزې او همدارنگـه د ناقانونـه کډوالـۍ د مخنيـوي پـه اړه هوکـړه کـړې ده. همـداراز د درې واړو لوريـو ترمنـځ سـوداگريزه او ترانزيتـي هوکـړه هـم لاسـليک شـوې ده.

# عبدالله عبدالله د ترکيې له ولسمشر سره د افغان سولې په اړه خبرې اترې وکړې

◆ د ۸صبح پښتو مجله

د ملـي روغـې جـوړې د عالـي شـورا رئيـس پـه ترکيـه کـې د «انتاليـا ډيپلوماسـۍ» ناسـتې پـه څنـډه کـې د ترکيـې لـه ولسمشـر سـره د افغـان سـولې او د افغانسـتان او سـيمې د وروسـتيو سياسـي او امنيتـي بدلونونـو پـه اړه يـې خبـرې اتـرې کـړې دي.

پـه دغه ليدنـه کـې چـې د روان کال د غبرگولـې پـه ۲۸مه نېټـه وشـوه عبداللـه عبداللـه او د ترکيـې ولسمشـر رجب طيـب اردوغان د افغانسـتان د سـولې بهير پـه اړه خبـرې اتـرې وکـړې.

سـپېدار مانـۍ اعـلان وکړ چـې عبداللـه او اردوغان د سـولې هڅو او د افغانسـتان او سـيمې د وروسـتيو سياسـي او امنيتي بدلونونو په اړه بحث او خبـرې کړې دي.

د ترکيـې ولسمشـر د افغانسـتان د سـولې لـه بهيره د دغه هېـواد د ملاتـړ پـه اړه ډاډ ورکـړی دی. اردوغـان پـه خپلـو خبـرو کـې ويلـي چـې ترکيـه په افغانسـتان کـې د سـولې او ثبات غوښـتونکې ده او له افغانانـو سـره بـه خپلـو همکاريـو تـه دوام ورکړي.

پـه ورتـه وخـت کـې عبداللـه د افغان سـولې بهير پـه اړه د ترکيې له هڅـو مننـه کـړې او د همکاريـو د دوام غوښـتنه يـې کړې ده.



د «انتاليـا ډيپلوماسـۍ» ناسـته د مهمـو نړيوالـو موضوعاتـو پـه اړه د بحـث پـه موخـه او د لوړپوړو سياسـي مشـرانو، د بهرنيو چـارو وزيرانو او سياسـي څېـرو پـه گډون ترسـره شـوې وه.

د ملـي روغـې جـوړې د عالـي شـورا رئيـس عبدالله عبدالله او د هېـواد د بهرنيـو چـارو وزيـر محمد حنيف اتمـر د غبرگولـې په ۲۷مه پـه دغـه ناسـته کـې د گـډون پـه موخه ترکيـې تـه ولاړل.



## د افغانستان په اړه د پاکستان

# د بهرنیو چارو د وزیر څرګندونې

◆ م. ظ. صمیم

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر له طلوع نیوز سره په مرکه کې د افغانستان په وړاندې د خپل هېواد د دریځ، له طالبانو سره د نوموړي هېواد د اړیکو، د سولې د بهیر او د افغانستان او پاکستان یو لړ نورو مسایلو په هکله خبرې کړې دي.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر ددې پوښتنې په ځواب کې؛ دا چې د افغانستان په وړاندې د پاکستان دریځ بدل شوی آیا واقعا څه بدلون راغلی، وویل چې زموږ تګلاره بدله شوې، موږ غواړو په افغانستان کې سوله او ثبات ټینګ وي؛ ځکه زموږ په نظر سوله ییز افغانستان د سیمې د نښلولو لپاره اړین دی. اقتصادي امنیت او د پانګونې، د دوه اړخیزو او سیمه ایزیو سوداګریزو اړیکو لپاره سوله او امنیت مهم دي. سوله یوازې د افغانستان اړتیا نه ده؛ بلکې د پاکستان غوښتنه هم ده، موږ تړې ګټو اخلو او ټل پاکستان په افغانستان کې د سولې د ټینګښت غوښتونکی دی. نړیوال په اند وو چې له پوځي لارې هم سوله راتلای شي خو اوس دې پایلې ته رسېدلي چې داسې ونه شول، موږ کلونه ټینګار کړی چې د افغانستان جګړه پوځي حل لاره نه لري. اوس اړتیا ده چې د خبرو له لارې سیاسي حل لاره ولټول شي.

شاه محمود قریشي وایي چې موږ غواړو له افغانانو سره دوستي ولرو، د افغانستان له ټولو قومونو سره باید اړیکې ولرو؛ اسلام آباد یو پر بل پسې د افغانستان نفوذ لروونکو مشرانو ته دغه هېواد ته د سفر بلنه ورکړې وه او د بېلابېلو قومونو له مشرانو سره مو کتلي دي. هغه زیاتوي چې دوی غواړي افغان دیپلوماتان او امنیتي ځواکونه پاکستان ته د زده کړو لپاره ورشي. قریشي ومنله چې د طالبانو مشران په پاکستان کې دي؛ خو وې ویل چې طالبان دوحې، مسکو او نورو سیمو ته تګ راتګ کوي.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر زیاتوي، موږ په افغانستان کې د تاوتریخوالي د دوام مخالف یوو، باید اوربند وشي ځکه چې باور لرو له تاوتریخوالي سره هم مهاله مذاکرات نه شي کېدای نو باید تاوتریخوالی کم او د سولې او مذاکراتو بهیر ګړندی شي. هغه وایي چې موږ له طالب چارواکو سره خبرې کړې؛ هغوی هم د سولې پلویان دي او دوی هم دا درک کړې ده، ځکه هغوی هم افغانان دي، په افغانستان نور عناصر هم شته چې په ورانکارۍ کې لاس لري لکه داعش او داسې نور. هیله من یم چې د سولې بهیر بندون مات شي او د سیاسي خبرو له لارې ستونزه حل شي که داسې ونه شول نو خدای مه کړه د نویمې لسیزې شرایطو ته به ستانه شئ چې د پاکستان او سیمې په ګټه نه دي؛ ځکه افغانان ډېر کړېدلي نور باید د مذاکراتو له لارې دا ستونزه اواره شي.

شاه محمود قریشي د ډیورند فرضي کرښې په اړه وایي: که موږ وغواړو چې د ښو ګاونډیو په توګه د یو بل تر څنګ ژوند وکړو زموږ غوښتنه دا ده چې دغه پوله په رسمیت وپېژنو، ځکه دا پېژندل شوې پوله ده.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ډیورند فرضي کرښه یوه جنجالي موضوع ده چې افغانستان یې نه مني، خو د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر وایي چې دا کرښه وروستۍ شوې او آن په اړه یې بحث ته هم اړتیا نشته. د هغه په اند په افغانستان کې ځینې کسان د مصلحت او شخصي ګټو له مخې هغه ردوي خو د نوموړي په باور دا یوه نړیواله پوله ده.

شاه محمود قریشي په پاکستان کې د طالب مشرانو د شتون په اړه د پوښتنې په ځواب کې وایي په دې هکله له خپل حکومته پوښتنه وکړئ.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي وایي: پاکستان په افغانستان کې د سولې د راتلو په لټه کې دی او ددې کار لپاره د آسانتیاوو د برابرولو په موخه یې مهم ګامونه پورته کړي دي. هغه زیاتوي چې نړۍ بدله شوې او پاکستان د لازیاتې پانګونې لپاره په افغانستان کې سولې او ټیکاو ته اړتیا

# د سرحدونو چارو وزیر، د قریشي څرګندونې د افغانستان کې په چارو کې لاسوهنه بولي






◆ د ۸صبح پښتو مجله

د سرحدونو قومونو او قبایلو چارو وزیر د دیورند کرښې په اړه د پاکستان د بهرنیو چارو د وزیر وروستۍ څرګندونې مغرضانه او د افغانستان په مسایلو کې لاسوهنه بللې ده.

محب الله صمیم د غبرګولي په ۳۱مه نېټه په خبري ناسته کې وویل چې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي دا نظر چې دیورند کرښه د نړیوالو له خوا په رسمیت پېژندل شوې کرښه ده، د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه ده. د سرحدونو او قبایلو چارو وزیر جوته کړې چې د قریشي له څرګندونو ښکاري چې د افغانستان په وړاندې د پاکستان په دریځ کې هېڅ بدلون نه دی راغلی.

هغه وویل: «قریشي داسې څرګندونې کوي چې د یوه هېواد ډیپلومات ته مناسبې نه دي.» صمیم زیاتوي، قریشي داسې خبرې کړې، لکه نومورې چې د طالبانو ډلې ویاند وي. د سرحدونو چارو د وزیر په وینا، د پاکستان ستونزه دا ده چې له پیاوړي افغانستانه وېره لري او تراوسه هم د ستراتیژیک عمق سیاست په لټه کې دی. صمیم له پاکستانه وغوښتل چې د ښه ګاونډیتوب اصل ته درناوی وکړي او د افغانستان په اړه له مغرضانه څرګندونو ډډه وکړي. د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزیر همداراز وویل چې افغانستان په تېرو درېیو لسیزو کې د پاکستان د نه اعلان شوې جګړې قرباني شوی او دا هېواد له طالبانو ملاتړ کوي.

محب الله صمیم په دې اړه د قریشي څرګندونې چې طالب مشران په افغانستان کې دي، رد کړې او وې ویل چې د طالبانو مشران په پاکستان کې اوسېږي او دا مسله له هېچا پټه نه ده.

شاه محمود قریشي د طلوع نیوز له مسوول مدیر لطف الله نجفي زاده سره په مرکه کې ډیورند کرښه نړیواله پېژندل شوې پوله بللې ده.

لري.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر وایي: «موږ غواړو مرسته وکړو، د سولې بهیر په پرمختګ کې مرسته وکړو، غواړو د افغانستان په بیارغونه کې همکاري وکړو، همداراز، له افغانستان او امریکا سره په ګډه له ترهګرۍ سره په مبارزه کې همکاري ولرو.»

قریشي د افغانستان د راتلونکي نظام په اړه د ګاونډیو او نړیوالو په شان نظر لري، هغه د نظام څرګنوالی د افغانانو حق بولي او آن که خلک امارت هم وغواړي. خو د پاکستان د بهرنیو چارو د وزیر په اند باید د افغانستان راتلونکی نظام د خلکو په رایه رامنځته شي او هر څوک چې افغانان وټاکي پاکستان ورسره موافق دی. قریشي پر دېموکراتیک او ټول ګډونه نظام ټینګار وکړ او وې ویل: « موږ پر دېموکراسۍ باور لرو او په افغانستان کې د یوه دېموکراتیک نظام غوښتونکي یوو، تل مو ویلي چې له یوه پیاوړي، خپلواک او دېموکراتیک افغانستانه ملاتړ کوو.»

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر وایي چې افغان سیاستوال باید سره کېني او د ستونزو د حل لاره پیدا کړي. هغه وایي چې افغانستان حق لري له هند سره ډیپلوماتیکې اړیکې ولري، خو که د افغانستان له خاورې د پاکستان پرخلاف استفاده کېږي اسلام آباد ځورېږي. قریشي زیاتوي چې د هند په پرتله باید له پاکستان سره د افغانستان اړیکې زیاتې وي.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر وویل چې پاکستان او افغانستان ګډ کلتور او خواږه لري، خو د طلوع نیوز مسوول ورته وویل چې ستاسو خواږه لږ ترخه وي، هغه په ځواب کې ورغبرګه کړه، که افغانستان او پاکستان سره نږدې شي تریخوالی به یې کم کړي.

د یادولو وړ ده چې له کلونو راهیسې افغان چارواکي، پاکستان د افغانستان په چارو کې په لاسوهنه ، له طالبانو ډلې په ملاتړ او د سولې په بهیر کې د همکارۍ په نه کولو تورنوي او له همدې امله د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې ترینګلې وي.

# د سهراب عظیمي مړینه؛ د چا زامـن وژل کېـږي؟



◆ لیکنه: بابک مازیار
◆ ژباړه: م. ع. پ

د ۲۰۱۹ کال پـه فبـروري میاشـت کـې د کشـمیر پـه پلواما کـې د هند پولیسـو پـر یـوه لېږدوونکـي موټـر ځانمرګی برید وشو چې پـه پایلـه کـې يې څـه بانـدې ۴۰ هندي پولیـس ووژل شـول. دغه برید د دې لامـل شـو چـې هنـدي الوتکې د پاکسـتان خـاورې ته ننـوځي او پـه بالاکوټ کـې د جیش محمد اړوند مېشـت ځایونه چـې د دغه ځانمرګي برید مسـؤلیت یې منلـی ؤ، بمبـاري کړي. د دې برید معنـی دا وه چـې د هنـدي سـرتېرو د وژلو پـه بدل کې د پاکسـتان واکمني ترپښـتو لاندې شـوې وه.

پـه دې جګـړه کـې پاکسـتانیانو یـوه هنـدۍ الوتکه په خپله خاوره کـې رانسـکوره کـړه. د هغـې الوتکـې پیلوټ ابهـی نانـدان وارتمان د پاکسـتان پـه خـاوره کـې ونیـول شـو. پاکسـتانیانو لـه هغـه یـوه ویډیـو چـې یـوې نرمـې ګروېګنـې او څېړنـې ته ورتـه وه خپـره کړه. پـه هغـه ویډیـو کـې پیلـوټ وروسـته لـه دې چـې ځـان یـې معرفي کـړ، چمتـو نـه شـو چـې پاکسـتاني مامورینـو تـه لا ډېـر معلومات ورکـړي. د هنـد ټولـو وګـړو دغه ویډیـو لیدلې وه. هند له غوسـې او احساساتو ډک ؤ او د هنـد حکومـت هـم چمتـو ؤ چې د پاکسـتان پـر خـاوره نـوي بریدونـه وکـړي.

پـه هغـه وخـت کـې د هغـه هنـدي پیلـوټ د پـلار ویډیـو هـم خپره شـوه چـې د هنـد پـوځ یـو تقاعد شـوی مارشـال ؤ. هغـه وویل چې زوی یـې د هنـد د پـوځ یـو سـرتېری دی، پـر دنـدې خبـر دی او پوهېـږي چـې د دښـمن پـر وړانـدې څـه ډول خبـرې وکـړي. پـلار یـې هغـه وخـت چـې زوی یـې د پاکسـتانیانو پـه بنـد کـې ؤ، وویل چـې هغـه پـه خپـل زوی ویـاړي. د پاکسـتان لومـړي وزیـر عمـران خـان هنـدی پیلـوټ د ښـه نیـت پـه موخـه ازاد کـړ. د هندیانـو د غوسـې اور سـوړ شـو او هنـد پـه خوښـیو سـر شـو. ابهـی نانـدان د هېـواد پـه کچـه د یـوه ملـي اتـل پـه توګـه د خلکو لـه لـوري بدرګه

> د خلکـو غبرګـون لـه یـوه حقیقت سـره ریښـنه لرلـه او هغـه دا وه چـې د وطن او خـاورې لـه سـاتنې سـره مینـې د افغانسـتان د پـوځ د یـوه جنرال زوی تـر کومه ځایه ورسـاوه او پـه همـدې جګـړه کـې ووژل شـو. دغه مسـئله په تېـرو ۲۰ کلونـو کـې پـه افغانسـتان کـې یـوه تـازه پېښـه وه؛ ځکـه چـې موږ په تېـرو ۲۰ کلونـو کې د حکومـت لـوړ پـوړو چارواکـو او مشـرانو له داسـې اولادونـو سـره مخامـخ ؤ چې د خپلـو پلرونو په هر ډول راټولـو کـړیـو پیسـو یې په عیاشـیو او پیسـو بادولـو سـره پـه دوبـۍ او نـورو هېوادونـو کـې په خوښـۍ او مسـتۍ سـره شـپې تېرولې.

او وستایل شو.

په هغه کیسه کې د یادونې وړه مسئله دا ده چې هندیان د خپلو ۴۰ سرتېرو د مړینې له امله له پاکستانیانو سره تر جګړې پورې مخ ته لاړل. بله مهمه مسئله دا وه چې د یوه هندي مارشال زوی د خپلو نورو ملګرو ترڅنګ چې د عادي هندوانو زامن ؤ، خپل خدمت او دنده په سمه توګه مخته وړې وه او د مرګ تر سرحده یې له خپل هېواد سره وفاداري او قرباني ثابته کړې وه.

کله چې سهراب عظیمي او د سنګر ملګرو یې د فاریاب دولت اباد ولسوالۍ له بېرته نیولو وروسته ووژل شول، د افغانستان ټولنیزو رسنیو دې مړینې ته غبرګون ونښود. دا په داسې حال کې ده چې د سهراب ترڅنګ څه باندې ۲۰ نور سرتېري هم وژل شوي ؤ؛ پوښتنه دلته ده چې ولې د دوی ترمنځ سهراب او د هغه د مړینې تراژیدۍ د ټولو زړونه په درد راوستل؟ د خلکو غبرګون له یوه حقیقت سره ریښه لرله او هغه دا وه چې د وطن او خاورې له ساتنې سره مینې د افغانستان د پوځ د یوه جنرال زوی تر کومه ځایه ورساوه او په همدې جګړه کې ووژل شو. دغه مسئله په تېرو ۲۰ کلونو کې په افغانستان کې یوه تازه پېښه وه؛ ځکه چې موږ په تېرو ۲۰ کلونو کې د حکومت لوړ پوړو چارواکو او مشرانو له داسې اولادونو سره مخامخ ؤ چې د خپلو پلرونو په هر ډول راټولو کړیو پیسو یې په عیاشیو او پیسو بادولو سره په دوبۍ او نورو هېوادونو کې په خوښۍ او مستۍ سره شپې تېرولې.

ښایي د سهراب د مړینې خبر رسنیز کېدو یو لامل هم د یوه جنرال د هېوادنۍ مینې ډک پیغام ؤ چې ویې ویل، وروسته له دې چې وې لیدل زوی مخکې پر ټټر ګولۍ خوړلې، نو په هغه یې ویاړ وکړ چې له دښمن سره په مخامخ جګړه کې یې ځان بایللی او دښمن ته یې شاه نه ده کړې. جنرال عظیمي د حکومت ټولو لوړپوړو چارواکو ته په خپل ښکلي او دردوونکي پیغام کې دا وښودله چې له غلا او فرصت طلبۍ پرته هم شوني ده چې له وطن سره اړیکې ولرو.

هغه خبره چې د دې خاورې زرهاوو انسانانو وینه یې په خوټېدو کړه، د یو پوځي په پرنسیپونو او ارزښتونو کې ژوره ریښه لري. پوځیان د جګړې او مبارزې لپاره روزل کېږي او د هرې شېبې مرګ لپاره هم چمتو وي؛ خو هغه مړینه چې له عزت او غرور سره مله وي، هغه مړینه چې تر وروستۍ سلګۍ د مورچل او هېواد ساتنې لپاره دربدل وي، دقیقا د سهراب او د سنګر د ملګرو د مړینې په څېر وي.

د سهراب مړینې موږ ټولو خواشیني کړي یوو، موږ یې له خوبه راویښ کړو. د افغانستان خلکو له دې وراندې فکر کاوه چې په مورچل کې مړینه یوازې د کلیوالو عزت او ویاړ دی او برعکس سرداري، حکومتولي، عیش او د دندو خوندونه د هغو نازولو دي چې د تش لاسو وګړو د جېبونو برکت دی چې مقامونو ته رسېدلي دي. جنرال عظیمي په خپل زړه بوږنوونکي پیغام سره وښوده چې ساتنه او دفاع د ټولو خلکو دنده ده او تر هغه چې په عادلانه توګه د بډایه او بې وزله، ښاري او کلیوال ترمنځ په ګډه توګه په جګړه کې ګډون ونه وېشل شي، نو د دې خاورې له امنیت او پرمختګ سره د ګډ مالکیت او مینې حس به رامنځته نه شي.

**سهراب په امریکا کې لوړې زده کړې وې؛ نوموړی د افغانستان پوځ په کورناستي جنرال زوی ؤ او کولای یې شول د افغانستان نورو لوړپوړو چارواکو د زامنو په څېر په نورو پرمختللو هېوادونو کې لږ تر لږه آرامه ژوند ولري.**

د دې لیکنې دوام د سهراب د مړینې پر تحلیل راڅرخي، خو له دې وراندې غواړم دوو نورو بېلګو ته هم اشاره وکړم.

باو بایډن د جو بایډن زوی هغه مهال چې پلار یې د ولسمشر اوباما د مرستیال په توګه د ټاکنیزو منډو ترړو په درشل کې ؤ، عراق ته ولاړ او د یوه کال لپاره یې هلته د امریکا د پوځ لپاره خدمت وکړ. بایډن عراق ته د خپل زوی له تلو یوه ورځ وروسته د ولسمشرانو د مرستیالانو په یوې ټاکنیزې مناظرې کې وویل چې که د هغه زوی نن عراق ته د جګړې لپاره لاړ نه شي، نو لمسي به یې اړ وي، په راتلونکو کلونو کې هغې جګړې ته لاړ شي .

شاهزاده هري د ۲۰۰۷ – ۲۰۰۸ کلونو ترمنځ د څلورو میاشتو لپاره د اپاچي چورلکې د پیلوټ په توګه په هلمند کې د سرتېري په توګه دنده ترسره کړه. په هغه هېواد کې چې ښایي د لوړپوړو چارواکو د اولادونو د عسکرۍ خدمت نوي چاره نه وي؛ خو په افغانستان کې دغه یو بې مخینې او نادره ګام دی او معجزې ته ورته دی. زما له نظره، د سهراب مرګ د تورتم په بهیر کې یوه کړکۍ ده چې د حقیقت وړانګې زموږ پر ریاکاریو وځلوي.

د لیکونکي لپاره دا مهمه نه ده چې عسکري په خپله خوښه وي که جبري؛ ځکه چې دغه چاره په بېلابېلو هېوادونو کې ازمویل شوي او د عسکرۍ بڼه یا نوعیت د دې لامل نه دی ګرځېدلی چې د یوې خاورې اوسېدونکي هېواد ته د خدمت پر وخت په سختو ورځو کې ناغېرې کړې وي او یا یې هم له مسؤلیته تېښته کړې وي.

په افغانستان کې د سنګرونو او ماڼیو ترمنځ پراخ واټن موجود دی. جګړه په بشپړ ډول طبقاتي بڼه لري. د هلمند، کندهار او فاریاب ولایتونو په سنګرونو کې د بزګرانو او بې وزلو خلکو اولادونه ګورئ. هغوی زړور او غښتلي دي او د جګړې په ډګر کې یې خپلې سرښندنې ثابتې کړې دي؛ خو بحث دلته دی چې د ماڼیو اوسېدونکي به زموږ د خلکو له درد او رنځه څنګه خبر شي؟ کله چې د هغوی زامن د خلکو له زامنو سره په سنګر کې نه وي، کله چې د هغوی کورونه د خلکو د کورونو په څېر د دښمن تر برید لاندې نه وي، کله چې هغوی د ډېرې خلکو په څېر بې وزلي او محرومیت تجربه کړی نه وي، کله چې هغوی هېڅ وېره او د خلکو احساس درک نه کړي نو له دې خلکو، هېواد او خاورې سره به څه نسبت او تړاو ولري؟

له دې خاورې سره مینه او پر وراندې یې د مسؤلیت احساس هغه وخت د یو چا په بدن کې ریښه ځغلوي چې د اولادونو وینه یې د جنرال عظیمي د زوی او د هېواد د زرګونه میندو او پلرونو د اولادونو د وینو په څېر له خاورې سره ګډه شي. هغه وخت چې یو سنګر د دښمن په کلابندۍ کې وي او مهمات او

خوراکي توکي د سرتېرو لپاره نه پاتې کېږي نو په سنګرونو کې به خپله اولادونه ورته يادېږي. **د سپېدار ماڼۍ، ولسمشرۍ ماڼۍ او د دې هېواد د خوږيو مورچلونو ترمنځ په بشپړه توګه عاطفي اړيکه پرې شوې ده.**

د دې وطن د غوره بچيانو د قربانيو بل برخليک به د فساد او عامه شتمنيو له غلاوو د بروکراتيکو دستګاوو پاکول وي.

د جبهو په لومړيو ليکو کې د سرتېرو سربښندنې بايد په پلازمېنه کې ارزښت رامنځته کړي. بايد له وطن او هموطن سره مينه غښتلې کړي؛ خو ددې برعکس په دې ورځو کې چې زموږ په سلهاوو سرتېري په جبهو کې ژوند له لاسه ورکوي، د وسله وال پوځ اعلی سر قوماندان د ګومارنو په غم کې دی؛ هغه څه چې هېڅوک يې اړين نه ګڼي. په داسې شرايطو کې چې د وسله وال پوځ اعلی سر قوماندان د خلکو ترمنځ ځرګند شي، خلکو ته هيله او سرتېرو ته مورال وبښي او له دې شرايطو د يووالي د فرصت په توګه کار واخلي او دغه پاشل شوې ټولنه راټوله کړي؛ چوپتيا يې غوره کړې او هغه وخت خپله چوپتيا ماتوي چې ټول بهرنيان يې په ډاډه زړه خبرپاڼې ورکړي چې د جګړې ترځنګ بل لومړيتوب هم لرو او تمه ده چې ولسمشر د وچکالۍ په اړه له ملت سره خبرې وکړي؟ په داسې شرايطو کې، له دې غبرګون څخه کښته بل څه چېرته ليدل شوي دي؟

**هېواد په جګړه کې ډوب دی، سرتېري مو تر ورروستۍ سلګۍ جګړه کوي او په مېړانې سره له خپلو مورچلو ساتنه کوي، اولس پاشلی، ناخوښ او ناهيلی دی، خو د وسله وال پوځ اعلی سر قوماندان غواړي د وچکالۍ په اړه بيانيه ورکړي.**

لامل يې هم روښانه دی، د ولسمشرۍ او سپېدار ماڼيو او سنګرونو ترمنځ عاطفي اړيکې پرې دي. ولسمشر او د امنيتي بنسټونو مشران په داسې شرايطو کې چې بايد په قول اردوګانو کې ښکاره شوي وای او د افغانستان په ګوټ ګوټ کې يې سرتېرو ته د يووالي حس ورکړی وای او د افغانستان خلک يې د امنيتي ځواکونو ترڅنګ بسيج کړي وای؛ له بده مرغه چې د هېواد له رهبرۍ د داسې يو ور او پرځای عمل او خوځښت تمه نه شي کېدای. له بده مرغه دا چلند بې مخينې دی، ولسمشر کرزي هم له طالبانو سره د قومي اړيکو په سبب، هېڅکله له هغوی سره له يو طرفه او د ورورۍ له اړيکې ډېره ونه کړه او په دې دريځ سره يې د هغو زرګونه سرتېرو وينو ته سپکاوی وکړ چې د هغو کسانو لخوا چې دی ورته د ورونو خطاب کوي په ځمکه تويې شوې. ګواکې د حکومت او طالب جګړه، د کرزي او د ترونو د زامنو ترمنځ جګړه ده او په دې کورنۍ شخړه کې د افغانستان د خلکو دريځ، خبرو او احساساتو ته هېڅ پام نه نه کېږي. دا چې اوسنی واکمن اجماع ته هېڅ ارزښت نه ورکوي او چمتو نه دی، د واک يوه وړه برخه هم له چا سره شريکه کړي، دا مو ډېر ويلي دي.

په دغو دوو ماڼيو کې د ناستو کسانو، يعنې اشرف غني او عبدالله عبدالله زامن خو په مورچلو کې څه آن په افغانستان کې هم نشته.

د نورو مشرانو اولادونه – د مارشال دوستم له زويه پرته چې د خپل پلار ترڅنګ په شمال کې په جګړې بوخت دی – ټول د سيمې امن او خوندي هېوادونو او يا د کابل په پوښل شويو او امنو سيمو کې چې اسمان څکه دېوالونه ترې چاپېر دي ژوند کوي.

**نه يوازې د غني او عبدالله بلکې د حکومت ډېری لوړپوړو چارواکو بچيان له افغانستانه بهر ژوند کوي. ځينې يې پر زده کړو بوخت دي او ځينې د کورنيو اقتصادي چارې ترسره کوي چې پيسې يې پلرونو له بيت المال جېبونو ته وهلې دي، مخ ته وړي او نن ورځ دغه واقعيت له چا پټ نه دی.**

دا چې خلکو د سهراب پر مړينه د افسانوي سهراب په څېر اوښکې تويې کړې، له دغه تريخ حقيقت سره ريښه لري، که نه جګړه د کليوالو د اولادونو ازلي او ابدي دنده ده او د رهبرانو او مشرانو او د اولادونو ځای نرم او ګرم تختونه دي او د هغه هېواد پر وړاندې چې شته يې ورڅخه قربان کړل، هېڅ مسؤليت نه لري. د هغو وګړو چې په دې وطن کې د شتمنۍ له ډېرېدو پرته بل پروګرام نه لري او د هغو ترمنځ چې ورسته له لوټلو هرڅه تر پښو لاندې کوي او له منځه يې وړي څه توپير دی؟ هغه ځوانان چې پرته له زحمته، هڅو او وړتيا او د واکمنو د ورکړل شويو منصبونو له لارې د دې ملک سرورۍ ته ورسېدل، د جګړې د دورې سياسي او فرهنګي ميراث ته يې دوام ورکړ او دوی هم په ځان غوښتنې، سمت پالنې، قوم پرستۍ، فساد او د شتمنيو په لوټلو کې ډوب دي.

په هېواد کې ډېر سهراب نامي وژل کېږي، د هغوی د قربانيو برخليک د خلکو لپاره دا دی چې د طالبانو تر واکمنۍ لاندې ژوند نه کوي. هره ورځ چې اړتيا شي نو خلک به د خپلو اولادونو ترځنګ ودرېږي؛ که حکومت يې مخه ډب نه کړي. خو حکومتي چارواکي هم بايد د غفلت له خوبه پاځېږي او بايد په دې پوه شي چې حکومت دا نه دی چې د خپلو کورنيو د غړو لپاره ترونونه ترلاسه شي، د کورنۍ غړي، هم ژبې او د خپلو ولايتونو کسان او ملګري پر لوړو پوستونو وګمارل شي. همدغه حکومت چې پر خلکو واکمنې کوي، د دې هېواد بې وزلو اولادونو د قربانيو په زور ولاړ دی. افغانستان يوازې د هوايي ډګر او وزير محمد اکبرخان ترمنځ کورونه نه دي. دغه هېواد ۳۴ ولايتونه لري. افغانستان يوازې قراردادونه او پوستونه نه لري، دغه هېواد مورچلونه هم لري او د عسکرۍ او پوځي خدمتونو مسؤليت هم لري او اداري بايد په هېوادنۍ مينې او حس سره په مسؤلانه ډول اداره شي.

په ډېرو ولايتونو کې د خلکو اولادونه نه وژل کېږي خو د غلا او د بيت المال لوټول هلته شته. **حکومت ميراثي نه دی چې هغه مو له خپلو پلرونو د سند په لرلو سره په ميراث وړی وي. حکومت د هغو سرتېرو کورنيو ته خدمت کول دي چې د هغوی د سرښندنو او قربانيو له برکته تاسې لټ، بې کاره او راحت طلبي کوئ. د سهراب عظيمي او د هغه د سنګر د ملګرو په څېر واوسئ چې د دې هېواد وياړونه دي او د تاريخ په زرينو پاڼو کې به د ماڼۍ مېشتو پر وړاندې سرلوړي وي او نومونه به يې په مېړانې سره يادېږي.**

## ملي دفاع وزارت:

# په ۲۴ ساعتونو کې ۲۳۴ طالبان وژل شوي دي



◆ د ۸صبح پښتو مجله

د افغانستان ملي دفاع وزارت وايي چې په ۲۴ ساعتونو کې د هېواد په ۱۵ ولايتونو کې د افغان امنيتي او دفاعي ځواکونو سره په جګړه کې ۲۳۴ طالب جنګيالي وژل شوي او ۱۰۳ تنه نور يې ټپيان دي.

د دغه وزارت لخوا په خپرې شوې خبرپاڼه کې راغلي چې، په همدې موده کې همداراز د طالبانو يو اندازه وسلې او مهمات هم د امنيتي او دفاعي ځواکونو لاس ته ورغلي دي.

خبرپاڼه زياتوي، دغه طالبان په لوګر، ننګرهار، پکتيکا، خوست، کندهار، زابل، فارياب، بلخ، سمنګان، هلمند، تخار، بغلان، پروان، کندز او کابل ولايتونو کې مړه او ټپيان شوي دي.

په ورته وخت کې په افغانستان کې د جګړې د زياتېدو او د يو شمېر ولسواليو د سقوط په غبرګون کې د امريکا دفاع وزارت ويلي چې امريکايي قوماندانان د افغانستان وضعيت په ورځينۍ ډول څاري.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستيو کې د هېواد په ګوټ ګوټ او په ځانګړې ډول شمالي او شمال ختيځو ولايتونو کې د افغان امنيتي او دفاعي ځواکونو او طالبانو ترمنځ جګړو زور اخيستی او ګڼ شمېر هېوادوال له دې امله اندېښمن دي.

د راپورونو له مخې، په تېرو څو اونيو کې د هېواد په شمال کې له ۴۰ زياتې ولسوالۍ د طالبانو لاس ته ورغلې خو په ورته وخت کې ملي دفاع وزارت د ځينو ولسواليو د بېرته نيولو خبر ورکړی دی. ملي دفاع وزارت ويلي چې د بلخ ولايت بلخ ولسوالي د چنګاښ په لومړۍ نېټه د افغان امنيتي او دفاعي ځواکونو او طالبانو ترمنځ له جګړې وروسته د افغان ځواکونو لاس ته ورغله.

له بلې خوا، د کندهار ولايت پر ميوند ولسوالۍ له تېرې يوې مياشتې راهيسې درنه جګړه روانه ده چې د چنګاښ په لومړۍ نېټه له سختې جګړې وروسته د دې ولسوالۍ مرکز او د امنيه قومندانۍ ودانۍ د طالبانو لاس ته ورغله.

خو د دولتي ځواکونو په هوايي بريد کې ۳۲ طالبان وژل شوي او يو شمېر نور ټپيان دي.

په کندهار کې امنيتي مسؤلينو لا تر دې دمه په دې اړه په رسمي توګه څه نه دي ويلي.

په ورته وخت کې طالبانو رسنيو ته په استول شوې خبرپاڼه کې ويلي چې د ميوند ولسوالي يې له سپکو او درنو وسلو سره يو ځای نيولې ده، خو د خپلو تلفاتو په اړه يې څه نه دي ويلي.

# ادبي ورشو

## لنډۍ

نجلۍ په سر دې منګی مات شه
چې په سرکو شونډو دې راشي سېلابونه

نجلۍ د بام په سر کړه شوه
ورسره کوږ شومه له پاڼه ولوېدمه

نجلۍ کړه شوه ماته نه شوه
د کونډې لور ده مور غوږې ورکړې دینه

نجلۍ وړه د یارۍ نه ده
کم عقله مور یې ورته سترګې توروینه

نجلۍ ولاړه په لمانځه ده
پېرزو مې نشي تور پیکی په خاورو ړدینه

مین زړګي ته مې سلام دی
چې تمامي عمر په صبر تېرومه

مینه په تلو راتلو زیاتېږي
مونږ کره مه راځه چې زړه دې صبر شینه

مینه په تلو راتلو زیاتېږي
کله راځه کله به زه درځم مینه

مینه له مینې پیدا کیږي
په مینه مینه دې کتل مین دې کړمه

مینه د روغو زړونو کار دی
زموږه زړونه غریبۍ وژلي دینه

مینه کې هر څه هر څه کېږي
په تا یوه خبره راغله هېر دې کړمه

میني دې داسې لېونی کړم
په لاره ځم خپل او پردي نه پېژنمه

زمـــا د روح د آسمـــانـــونـــو ښـــکلا
قسم پـــه خـــدای دی په تیارو کـــې یمه
خدایزده د کـوم ښکلي مې زړه مـــات کړي
دا ځو کـلونه پـــه ښیـــرو کـــې یمه

ګنې نـــو تـــه د ښکــلاګانو کــتاب
زما د زړه په تاخ کې پـــاس ایښــــی یې
له تصـــوره دې ګـــردونــــه شرم
په وریښمین پوخ کې د احساس ایښی یې

د شاعـــرۍ ورځـــې خـــو پاتې دي لا
مرمـــوز کتـــابـــه مفـــسر دې یـــمه
چې شرنګ د تورو شي د شـــاتـــو مجـۍ
داسې به کړه چې شـــاعـــــر دې یمه

خـــرک د لیمـــو رابـــانـدې ولګوه
ستا په بنګړیـــو بـلا شـــور لـــرمه
بیا به یې دغـــه دنـــیا تـــآب نه لري
په تخـــیل کـــې دومـــره زور لـــرمه

د تـــاج محـــل کیـسه بلا وړه ده
زه د فـــولادو نـــه مـــرمـــر جـوړوم
دغـــه دنـــیا بـــه رنـګه بنـګه کړمه
نـــوې یـــې زه پـــه خپل هنر جوړوم

د حـــسن و میـــنې د تـــقـدیر خبرې
ټولې په ګـــډه یـــو ځـــواب غواړي
د زړو لارو منـــځ کـــې تـــم وګړي
د یـــوې لارې انتـــخاب غـــواړي

زمـــا ملـــګري زمونـږ ډېر ملګري
نشي د ، بیر ، او اروپـــا ګیـــر کړي
که بیرته راشي ژوند به څه تـــه وایي
خلک مې خم د امریـــکا ګـــیر کړي

د ژونـــدانـــه د جنګ کیسه نه کوم
نه د یارانـــو تیـــر بـــاري یـادوم
نه به د ښکلیو تـــذکـــره کـومه
نه به یې زه درته یـــاري یـــادوم

پـــرته له دې هم ډیر غمونه شته دي
بیلې شیـبې دي ، نمایش یې ډیر دی
زما د زړه ښـــیښې ته ځان جوړوي
لکه چې شوق د آرایـــش یې ډیر دی

همـــدا غمـــونه زما شونډې نیسي
خوږې خبرې مـې پر خولـه پاتې شي
ستا د خبـــرو د ســـرور ملګری
ښکې نیزې راته پر زړه پـــاتې شي

مصطفی سالک

# مریدنامه ۲۹

◆ لیکوال څېړنوال عبدالغفور لیوال

له ښاره چې ووتل، د شنو پټیو او ورشو ګانو ترمنځ لاره یې ونیوله، په لاره کې یو ښکلی کلی په مخه ورغی، کلیوالو کرکېله کوله، ځای ځای یې په شنو ورشو کې په رمو او پیورو غواګانو سترګې خوږې شوې. شنه غنم د هوا څپو ته داسې ورو ورو اوښتل را اوښتل لکه د اتڼ په پیل کې چې زلمي اتڼچیان څنې غورځوي. کورونه پر کوشنیو غونډیو آباد وو، د غرمې د تنرونو لوګیو دا ښووله چې کورنیو غلمینه ډوډۍ پخوله.

ببرسري پیر وموسل، ودرېد او خپل مرید ته یې وویل:

دا کلی د هوښیارو خلکو هستوګنځای دی، هرڅه پر خپل ځای دي، دوی پرشنو پټیو خټین او ډېرین کورونه نه دي ودان کړي، دوی د کروړ زمکه پېژني ځکه په نس ماړه او په تن پټ دي. وګوره !

هېڅ برجوره لویه کلا نه شته ، ټول کورنه د اړتیا تر بریده پراخ جوړ شوي، خو نه لوړې پخڅې لري او نه هم داسې برجونه، چې له تیرکشونو څخه یې څوک وګواښل شي، له دې نه ښکاري، چې د دې کلي اوسېدونکي دوښمني او تربورګلوي نه پېژني. په لښتیو کې اوبه رواني دي، لارې له ډېرو او خندونو پاکې دي، پلونه او ګودرونه جوړ دي او د کلي ژرنده او جومات اخېړ شوي دي، داسې ښکاري، چې دا خلک لاهم اشر کوي او خپلې ګډې شتمنۍ په خپله ساتي.

مرید یو کلیوال د کلي د ودانۍ او هوساینې له رازه وپوښت، کلیوال ځواب ورکړ:

بل راز نه شته، یوازې هرڅه پرخپل ځای دي:

خان مشري کوي، خو ټوپک او کوټک نه لري، ملا یوازې په جومات کې وي عبادت کوي او خلک سمې لارې ته رابولي، ملا او خان یو د بل په کارونو کې ګوتې نه وهي. د کلي خلیپه یوازې سرونه جوړوي، د ودونو او خیراتونو پخلی کوي او په خوښیو کې ډول وهي، د ده له سیاست سره کار نه شته. هو رېښتیا یوه بل خبره دا ده، چې په کلي کې یوه مشره مورا ده، هغه لوستې او هوښیاره ښځه ده، د کلي ټولو ښځو ته یې سبق ویلی دی، د کلي ټول نارینه د لوستیو ښځو په لمنو کې رالوی شوي دي، هوښیار، زړه سواندي او مهربانه دي، هیڅوک په غلو او داړه مارو پسې نه ځي، زموږ د کلي خلک غله خپل اتلان نه ګڼي.

ببرسري، چې دا هرڅه واورېدل ویې خندل، ښه ښدریغه یې وخندل او بیا یې د کلیوال له لاسه د یخو اوبو کوزړۍ واخیستله، دی تږی و او اوبه خوړې.

## د سولې هغه شعر چې لومړی مقام یې خپل کړ



◆ محمد عزیز پردېس

څو ورځې وړاندې د بغلان ولایت په کچه «د سولې لپاره ـ شعر برای صلح» تر نامه لاندې مشاعره جوړه شوه. په دې مشاعره کې هغه شعرونه سیالیو ته وړاندې شوي ؤ چې د جګړې بد انځور، د سولې او پخلاینې پیغام په کې پروت ؤ. د شعر په دې سیالۍ کې ۲۵ شاعرانو ګډون کړی ؤ، چې پینځه شاعران پکې غوره شول. د دغې سیالۍ په پایله کې عبدالوهاب مومند د پینځو غوره شاعرانو له ډلې لومړی مقام خپل کړ. عبدالوهاب مومند له لومړي مقام اخیستو وروسته له ۸صبح سره په مرکه کې وویل: «ویاړم چې په خپل شعر کې مې د سولې او پخلاینې انځور په ښه توګه منعکس کړی و او وروسته له دې به د سولې اړوند لا ښه شعرونه ولیکم.» پوهنمل ګل الرحمن رحماني، استاد سید کاظم فاضل او پوهندوی فوزیه ولیزاده د دغو سیالیو د قضاوت مسوولیت درلود. دوی وویل: شعرونه، منځپانګې، پیغام او د لیکلو څرنګوالي ته په کتو په پوره امانتدارۍ او دقت سره وکتل شول او د روښتیا په فضا کې پایلې اعلان شوې.

دغه مشاعره د «کانون فرهنګي آستانه» لخوا ترسره شوه.

د سولې اړوند هغه نظم چې لومړی مقام یې خپل کړ:

**نظم**

سوله ژوند ده!
یاني فهم د ژوندون دی
د بقا لپاره یون دی
پاتې کېږي سره زړونه

سوله ژوند ده!
نفرتونه د اوبو په یوه لپه
مړه کېږي د اورونو سکروټې
د یو اوږد مزل نه وروسته
دواړه زړونه له یو بل نه قربانېږي

سوله ژوند ده!
د آینې په مخ کې ناستې غبارونه
پرې راخور وي د ګېډیو امبارونه
صفا کېږي د سبلې په وحشت غږ کې
د هینداري له مخ پورته شي ګردونه

سوله ژوند ده!
لکه زه او ته چې دواړه
موتې خلاصې کړو یو بل ته
د وصال خواږه په ګوتو کې راتاو کړو
وچې شونډو ته درانه درانه درمل شو

سوله ژوند ده!
د ببلتون کرښه به نه وي په ژوندون کې
زما او ستا په منځ کې نه به وي تارونه
په یو ګل باندې چا جوړ کړل بهارونه؟
راځه یو شو!
نیم به زه شم، نیم به ته شې
بیا به واخلو له یو بل نه الهامونه

سوله ژوند ده!
بې مفهومه کرکېچونه
د ابرو غونډې به پورته شي بادونه
شخړې نوم به محبت باندې بدلېږي
نور به څه وي؟
د ژوندون ترجماني ده
او د زړونو پادشاهي ده

# امریکا له کډوالو د ملاتړ په موخه د افغانستان له ګاونډیو سره همکاري کوي



◆ د ۸صبح پښتو مجله

د کډوالـو د نړیوالې ورځـې پـه مناسبت پـه کابـل کـې د امریـکا سـفارت اعـلان وکـړ چـې دغـه هېـواد نیـت لـري لـه افغـان کډوالو او بـې ځایـه شـویو د ملاتـړ په موخـه د افغانسـتان له ګاونډیو سـره همـکاري وکـړي.

پـه کابـل کـې د امریـکا د سـفارت سرپرسـت راس ویلسـن د غبرګولـي پـه ۳۰مـه تېټـه د کډوالـو د نـړۍ والـي ورځ په مناسبت پـر خپلـه ټویټـر پاڼـه لیکلي: دغـه هېواد لـه نـږدې د افغانسـتان له ګاونډیـو سـره لـه کډوالو، پناه غوښـتونکو او بې ځایه شـویو د ملاتړ لپـاره همـکاري کـوي.

د امریـکا سـفارت د سرپرسـت پـه وینـا پـه روان کال کـې پـه افغانسـتان کـې ۱۵۰ زره وګـړي بـې ځایـه شـوي دي.

همدارنګـه راس ویلسـن لیکلـي چـې مـوږ لـه پناه غوښـتونکو سـره یـوو او لـه نـږدې د افغانسـتان لـه ګاونډیـو او نړیوالـې ټولنـې سـره همـکاري کـوو چـې د افغـان پنـاه غوښـتونکو، کډوالـو او بـې ځایـه شـویو څخـه ملاتـړ وکـړو.

امریـکا پـه افغانسـتان کې له کورونا سـره د مبارزې پـه موخه ۲٦٦ میلیـون ډالـره مرسـتې اعلان هـم وکړ. د څو لسـیزو جګـړو له امله افغانسـتان په نـړۍ کې ډېر کـډوال لري.

## ولسمشر غني:

# نړیوالې ټولنې طالبانو ته سیاسي حیثیت ورکړی



◆ د ۸صبح پښتو مجله

محمـد اشـرف غنـي په ولسمشـرۍ مانۍ کـې د کډوالـو د نړیوالې ورځـې لـه املـه جـوړو شـویو مراسـمو کې وویـل: طالبـان د جګړې د دوام مسـوول دي، عامـه تاسیسـات ویجاړوي، او ملکـي وګـړي پـه نښـه کـوي.

ولسـمشر زیاتـه کـړې چـې د طالبانو تپل شـوې او نامشـروع جګړه بایـد د سـیمې او نړیوالـې ټولنـې له خوا وغندل شـي.

غنـي د سـیمې لـه هېوادونـو پـه تېـره بیـا لـه ایـران او پاکسـتانه غوښـتې چـې پـه افغانسـتان کـې د عادلانـه او تلپاتـې سـولې پـه راوسـتو کـې همـکاري وکـړي.

محمـد اشـرف غنـي پـه دې ناسـته کـې کـډوال د «ملـت او ملـي سـرمایې» یـوه برخـه بللـي او وایـي چـې د اساسـي قانون پر بنسـټ د ټولـو افغانانـو حقونـه خونـدي دي.

محمـد اشـرف غنـي وایـي چـې اتـه ملـي پروګرامونـه د ډېزایـن او عملـي کېـدو پـه حـال کـې دي او پـه دې برخـه کـې بایـد نړیوالې مرسـتې د پایلـو پـر بنسـټ وي.

د هېـواد ولسمشـر لـه هغـې یوه ورځ مخکـې هم ویلي چـې نړیواله ټولنـه بایـد ومنـي چـې طالبـان پـه قصـدي توګـه بشـري حقـه تـر پښـو لانـدې کـوي.



# هندي چارواکو د لومړي ځل لپاره په دوحه کې له طالب مشرانو سره وکتل

◆ د ۸صبح پښتو مجله

هنـدي رسـنيو رپـوټ ورکړی چـې د لومړي ځـل لپاره هنـدي چارواکو پـه دوحـه کـې د طالبانو له مشـرانو سـره کتلي دي.

لـه دې مخکـې هندوسـتان ټايمـز رپـوټ ورکړی چـې هند لـه طالب مشـرانو سـره اړيکـې نيولي خو تراوسـه يـې مخامخ نه دي سـره کتلي.

د هندوسـتان ټايمـز د رپـوټ لـه مخـې، د شـخړو د اواري پـه چـارو کـې د قطـر د بهرنيـو چـارو وزارت ځانگړي اسـتازي مطلـق بـن ماجد القحطانـي د غبرگولـي پـه ۳۱مـه نېټـه ويلـي چـې هنـدي چارواکو له طالـب مشـرانو سـره کتلـي دي.

القحطانـي زياتـه کـړې چـې هنـد لـه طالبانـو سـره په تمـاس کې دی ځکـه طالبـان بـه د راتلونکـې حکومـت برخـه وي.

نومـوړي پـه واشـنگټن کـې د عـرب مرکـز پـه آنلايـن ناسـته کـې چـې د افغانسـتان د سـولې پـه اړه جـوړه شـوې وه ويلـي هنـدي چارواکو او طالـب مشـرانو سـره کتلـي دي، خـو پـه اړه يـې نـور جزيـات نشـته.

هنـد لـه دې مخکـې طالبـان يـوه ترهگـره ډله او د پاکسـتان اسـتازي بللـې وه، تېـر کال د افغانسـتان د سـولې لپـاره د امريکا ځانگړي اسـتازي زلمـي خليلـزاد وړانديز کړی و چې هند دې خپلې اندېښـنې پـه مسـتقيمه توگـه لـه طالبانو سـره شـريکې کړي.

د يادولـو وړ ده چـې د هند د بهرنيو چارو وزير جې شـنکر، د غبرگولي پـه ۲۵مـه نېټـه، د قطر پـه پلازمېنې دوحه کـې له زلمي خليلزاد سـره کتلي و.

اټـکل کېـږي چـې جـې شـنکر به پـه دوحه کې له طالب مشـرانو سـره هـم کتلي وي.

د هنـد بهرنيـو چـارو وزارت او د طالبانـو ډلـې تراوسـه پـه دې اړه څـه نـه دي ويلـي.

# ملا برادر: افغانستان د غير متمرکز نظام پر ځای پياوړي اسلامي نظام ته اړتيا لري



◆ د ۸صبح پښتو مجله

په قطر کې د طالبانو د سياسي دفتر مشر او ددې ډلې مرستيال د (څرنگه يو پرمختللی، پياوړی او باثباته افغانستان ولرو) تر عنوان لاندې د سولې د بهير او د راتلوونکي نظام په اړه د طالبانو دريځ بيان کړی دی. ملا برادر په دغه ليکنه کې ثبات ته د رسېدو لپاره د اسلامي پياوړي نظام پر جوړولو ټينگار کړی او وايي چې د باختياره غير متمرکز او فاسد نظام پر ځای پياوړی، متحد او له فساد پرته افغانستان د ملگروملتونو په گډون د نړيوالې ټولنې په گټه دی.

د طالبانو سياسي مرستيال د دوحې هوکړه هغه لار بللې چې په باور يې د سولې لپاره يې ښه فرصت منځته راوړی دی. نوموړي ليکلي د دغې هوکړې په عملي کېدو سره چې د بنديانو خلاصون، د تور لېست ختمول او پاتې موارد د اوسنې کړکېچ د اواري لپاره زمينه برابروي.

ملا برادر ټينگار کوي چې د نړيوالو ځواکونو د وتلو په بهير کې بايد د خلکو د ارمان او غوښتنې پر اساس د يوه نظام پر جوړولو کار وکړو. هغه ليکلي چې واقعي اسلامي نظام د افغانانو د ستونزو د حل غوره لار ده. عبدالغني برادر په دغه ليکنه کې د بهرنيو ځواکونو له وتلو وروسته د رامنځته شويو اندېښنو په اړه وايي چې دغو اندېښنو ته په بين الافغاني مذاکراتو کې ځواب ويل کېږي او بايد له وړاندې په گمانونو سره د سولې فرصت له لاسه ورنه کړو.

هغه له نړيوالې ټولنې هم غوښتي چې افغانانو ته اجازه ورکړي د خپل برخليک او د هېواد د راتلونکي په اړه تصميم ونيسي.

د طالبانو سياسي مرستيال د وگړو او ښځو د حقون په اړه ويلي طالبان د اسلام مبارک دين او د افغاني ټولنې منل شويو دودونو په رڼا کې د خپل هېواد د ټولو وگړو حقونو لکه د بيان آزادي، زده کړه، کار او داسې نورو ته ژمن دي او ټينگار کوي چې د ښځو د کار او زده کړو لپاره به مناسب چاپېريال او اسانتياوې برابروي.

ملا برادر په دغه ليک کې نورو موارودو لکه نشه يي توکو، د نورو هېوادونو پرخلاف د افغانستان د خاورې نه کارول او له نړۍ سره اړيکو ته هم اشاره کړې ده.



# حکومت زموږ او نور کارونه د تقدیر دي

◆ عبدالوحید وحید

**یادونه: «په لیکنه کې راغلي نظرونه په لیکوال پورې اړه لري او مجله یې رد یا پخلی نه کوي!»**

ځومره بدنصیبه قانع ملت او ځومره بختور بې مسئولیته مشران لرو. څوک پردیو راباندې مسلط کړي او یا هم داسې خلک راباندې مسلط دي چې ډېر انسانان یې وژلي وي. په یوویشتمه پېړۍ کې هم فکر کوو چې حکومت کول د زورورو حق دی. د ملت دنده حکم منل او د حاکم د بدو اعمالو مخالفت د تمرد په ګټګورۍ کې راځي.

واکمنه ډله د ژوند تر پایه مشران وي. کله چې مړه شي، نو زامن یې په اوږو سپروو، لاسونه ورته پړقوو. هېڅ واکمن په مشورتي نظام، ملي مشارکت، د ولس د غږ په اورېدو عادت نه دی. د ملت د لوږې او د ژوند د نورو اړتیاوو په هکله ځان مسئول نه ګڼي. دا هر څه د خدای لخوا د تقدیر مسئله ګڼي، خو په ملت باندې د خپل حکم منل او سرچینو باندې ټولواک کېدل د الله تعالی لخوا ورته سپارل شوی داسې حق ګڼي چې د واک د سلبولو او کمولو غوښتنه یې بغاوت ګڼل کېږي. له بده مرغه چې په دربار کې د سلاکارانو په توګه ناست افراد

> البته هغه لسګونه زره افغان ځوانان چې د ترهګرۍ پر ضد پردۍ جګړه کې تر خاورو لاندې شول، د خاورو خوراک شول، کونډې یې خیراتونو ټولولو ته اړ شوې او یتیمان یې وږي ویده کېږي. په لسګونو زره هغه نور ځوانان هم وینو چې هره ورځ د بې وزلۍ، لوږې، ناامنۍ او وزګارۍ له امله هېواد پرېږدي او د مرګ له لارې ځانونه د یوې مړې ډوډۍ موندلو لپاره پردیو هېوادونو ته رسوي.

هم د جابر حاکم ټولو کړنو ته د دین او یا هم کوم بل منل شوي مدني قانون په چوکاټ کې د مشروعیت دلایل وړاندې کوي.

که ولس د حاکم د ظلم زغملو حوصله له لاسه ورکوي او په وړاندې یې درېږي، نو واکمن ټولی جبراً د ولس په ستوني کې د حق غوښتلو غږ د تل لپاره بندوي.

په تېرو څو لسیزو کې مو د کمونستانو د «کور، کالي، ډوډۍ»، د مجاهدینو «راغی اسلامي نظام وروڼو مبارک مو شه»، د طالبانو «د دوزخ لایقه طالبان ولې ځوروې» او اوسنۍ ډیموکراسۍ کې «د ښځو او ځوانانو حقونه»، «وطنه مور یې زمونږ» او داسې نور

مختلف نظامونه له ډول ډول شعارونو سره وآزمویل او بېلابېل مخونه مو ولیدل. د هغوی ترمنځ د ظلمونو او له ارزښتونو سره د ژمنې د کچې له توپیرونو سره سره هېڅ اړخ هم د ولسي ارمانونو د تحقق لپاره د باور وړ ګامونه نه دي پورته کړي.

شل کاله وشول چې د امریکا په خوښه وګړي د واکمنو په توګه راوستل شول. هغه ناروا وې چې وشوې تفصیل ته اړتیا نه لري. د ډیموکراسۍ په تازه دوره کې د اشرف غني له مشرتابه لاندې څو اشخاص چې د ځینو هویت هم نامعلومه دی له لوېدیځ فکر سره په پراشوټي توګه را وارد شول، زمونږ ملي دودنه یې مات کړل، ملي ارزښتونه یې تر پښو لاندې کړل، اخلاقي کوډونه یې ونړول او زمونږ سرچینې یې تاراک کړې.

البته هغه لسګونه زره افغان ځوانان چې د ترهګرۍ پر ضد پردۍ جګړه کې تر خاورو لاندې شول، د خاورو خوراک شول، کونډې یې خیراتونو ټولولو ته اړ شوې او یتیمان یې وږي ویده کېږي. په لسګونو زره هغه نور ځوانان هم وینو چې هره ورځ د بې وزلۍ، لوږې، ناامنۍ او وزګارۍ له امله هېواد پرېږدي او د مرګ له لارې ځانونه د یوې مرۍ ډوډۍ موندلو لپاره پردیو هېوادونو ته رسوي.

اوس داسې ښکاري چې د ډیموکراسۍ په توره وهل شوي طالبان په دوهم ځل پر هېواد بشپړه وکمنې غواړي او نور ورته د غوښن رول ورکولو لپاره تیاري نیسي. طالبانو ته د لوبې د ګټلو لپاره د فساد له امله ولس له حکومته ناهیلي شوی، ځورول شوي ګوندونه، مأیوسه شوي اقوام او د ارګ د ناخوالو له امله د وطن پرسته افغاني کدرونو کتارونه د خامو توکو په توګه په لاس ورغلي دي. اوس نو ددغو پرګنو ملاتړ ترلاسه کول د طالبانو په وړتیا، ایماني فراست او ژورلید پورې اړه لري چې په افغانستان کې یې د اسلامي نظام په پلوي او په راتلونکي کې د خپل سیاسي اړخ د پیاوړتیا په موخه وکاروي.

زه منم چې ددغه نظام چارواکو په لومړي سر له طالبانو سره ظلم وکړ. په کورونو کې یې ونیول، امریکا ته یې د څو پیسو په مقابل کې وسپارل، د هېواد پرېښودلو ته یې اړ کړل او داسې نور ډېر وحشتونه ؤ چې انکار ترې نه شي کېدای، خو اوس د غچ اخیستو وخت نه دی. کابل ته ننوتل او یا هم د ارګ نیول کېدای شي آسانه وي خو دلته حکومت کول خورا سخت کار دی. د طالبانو اوسني وضعیت د ارزولو، وړتیاوو، علمي کچې، له خپل ولس او نړۍ سره د هغوی چلند او ذهني ځانګړتیاوو ته په کتو دوی خورا زیاتې نیمګړتیاوې لري. د خپلو افرادو په روزنه او مدیریت کې ستونزې لري. د هغوی جنګیالي اوس هم ولس ځوروي، خلک کډو بارولو ته مجبوروي او د هغوی په جګړو کې د ملکي تلفاتو کچه لوړه شوې ده.

په افغانستان کې خورا زیات خلک او کدرونه شته چې په اسلامي او غیر متزلزل نظام باور لري، په ټولنیز عدالت او د خپلو ولسونو په ملاتړ ولاړ اسلامي نظام یې د څو لسیزو د مبارزې موخه جوړوي. په اسلامي نظام باندې د افغانانو ترمنځ اختلاف نه شته. اختلاف په واک باندې دی. ستونزه دا ده چې طالبان د واک په انحصار او پر نورو د باور د نشتون په لاعلاجه رنځ اخته دي. دغه تشه باید هغوی په خپله ډکه کړي. که داسې نه وي نو دا وړې نه شړې کېږي.

له حکومتي چارواکو سره د پرتلې وړ نه دي، خو بیا هم د هغوی په لیکو کې له فساده ورهاخوا د حکومتي ودانیو د نړولو، سوځولو وژلو او خرابولو ذهنیت په پراخه کچه موجود دی. طالبان د خپلو وسلوالو په لاس د وژل شویو ملکي خلکو وژل نه شي توجیه کولای.

په ځینو مواردو کې شواهد شته چې د طالبانو دلګی مشران مفتیان هم دي، قوماندانان هم دي، قاضیان هم دي او څارنوالان هم. د هغوی اړوند چارواکي د سړکونو په اړولو، پلونو او ودانیو په نړولو او وحشت کې ښکېل دي. په پکتیا کې د نیمه جوړ شوي روغتون او د فراه ولایت د انارډرې ولسوالۍ ودانۍ نړول یې مشت نمونه خروار دي. څرګنده خبره ده چې په دغه ډول مواردو کې د مسئولیت نه منل په وحشتونو باندې ځانونه غلي نیول طالبانو ته برائت نه شي ورکولای.

طالب مشرانو! ملت په نظام کې ستاسو نه شتون محسوسوي، ستاسو په رول سترګې نه پټوي، ستاسو نشتون کې نظام نیمګړی دی، له تاسو سره سوله زمونږ د ټولنیز پرمختګ لپاره د اکسیجن حیثیت لري؛ خو دا هم واقعیت دی چې د ولسوالیو او ولایتونو نیولو او د حکومت کولو ترمنځ زیات توپیر شته. دلته ستاسو په ګډون نورو هم کابل نیولی او د حکومت کولو ناکامه هڅه یې کړې ده. اوس خو لا د حکومت کولو لپاره ډېرو داسې وړتیاوو ته اړتیا ده چې تاسو یې تجربه نه لرئ. تر ټولو مهمه خبره دا ده چې ستاسو په وړاندې ډېر پیاوړي کورني او بهرني حساسیتونه موجود دي او تاسو د دغو حساسیتونو د ګراف راښکته کولو لپاره هېڅ نه دي کړي. سپارښتنه مو دا ده چې په خپله د نظام ممکنه پاشلتیا خطرناک ګام مه پورته کوئ او د نورو لخوا د نظام د ړنګولو هڅو مخه هم ونیسئ. د سولې نوښتګر شئ، د ستونزې د حل لپاره په زړه پورې وړاندیزونه وکړئ. افغانانو او نړۍ ته ثابته کړئ چې تاسو له جګړو ورهاخوا د مدیریت سیاست نوښت او له نړۍ سره د امن په فضا کې د اوسېدو وړتیا هم لرئ.

له نورو سیاسي ګوندونو، اقوامو، ډلو ټپلو او اصنافو سره د ګډ کار لپاره ځانونه تیار کړئ. په ټاکنیز نظام کې سمون راتلل اړین دي خو د ملت د مستقیمې رایې پربنسټ ولاړ نظام د زعامت د ستونزو یوازینی حل لاره ده. که ولس د حاکم په اطاعت مکلف دی نو واکمنه ډله هم د خپل ولس د ټولو ستونزو د حل مسئولیت لري. د سیاسي مخالفت او د بیان ازادۍ دود ته وده ورکړئ. مخالفت ته د دښمنۍ په کټګورۍ کې ځای مه ورکوئ.

نیوکې د تېروتنو د مخنیوي او د خپلو سهوو ته د متوجه کېدو او سمولو لپاره اړینې وګڼئ. په مخالفت اړخ باندې د فتوا ورکولو پرځای هغوی ته پر مسائلو د پوهو خلکو په څېر غوږ ونیسئ. که مو خبره خوښه نه شوه نو هېڅوک یې هم په زور درباندې نه مني او هغوی ته ګواښ مه کوئ. ولس خپل خادمان نه بلکې له ځانونو د ولس خادمان جوړ کړئ. په سیاسي مخالفینو باندې له شرعي آدرسونو له فتواو ورکولو مخکې د هغوی د مخالفت لاملونه درک کړئ.

# په هېواد کې د کورونا ویروس د درېيمې څپې پراخېدل




◆ م. ظ. صمیم

د کورونا ویروس درېیمه څپه په داسې حال کې د هېواد ولایتونو ته خپره شوې چې د هرې ورځې په تېرېدو سره په روغتونونو کې د اکسیجن د کمښت په اړه اندېښنې زیاتېږي. د عامې روغتیا وزارت هم خبرداری ورکوي چې کورونا ویروس ټولو ولایتونو ته خپور شوی خو په وړاندې یې چمتووالی لري. ددغه وزارت مسوولین په راتلونکو ورځو کې هېواد ته د ۷۰۰ زره دوزه چینایي، ۴۰۰ زره دوزه هندي او یوه اندازه امریکايي واکسینو د رارسېدو خبر هم ورکوي.

په هېواد کې په کورونا ویروس د اخته وګړو د شمېر په زیاتوالي سره د عامې روغتیا وزارت سرپرست وحید مجروح وايي چې دا ویروس ټولو ولایتونو ته خپور شوی دی.

د هغه په وینا د دغه ویروس د درېیمې څپې د خپرېدو په پیل کې د هېواد په ختیځو ولایتونو کې د اخته وګړو شمېر زیات و، خو اوس په لوېدیځو، سویلي او مرکزي ولایتونو کې هم د کووېډ نولس ناروغانو شمېر ورځ تربلې په زیاتېدو دی.

هغه زیاتوي چې په دې پړاو کې د ویروس د خپرېدو سرعت زیات دی له همدې امله اکسیجن ته د ناروغانو اړتیا زیاته شوې ده.

د روغتیا وزارت سرپرست جوته کړه چې په ټولو ۳۴ ولایتونو کې د ناروغانو د درملنې او بستر ظرفیت دوه برابره شوی او روغتونونه خدمات وړاندې کوي، خو د کووېډ نولس ناروغانو شمېر دومره زیات دی چې دا امکانات بسنه نه کوي. د مجروح په خبره د کابل پر جناح، افغان جاپان او قصبې روغتونونو سربېره د افغان اندونیزیا د کووېډ نولس نارغانو برخه هم پرانیستل شوې او دا ټول رغتونونه له ناروغانو ډک دي. د روغتیا وزارت چارواکي ټینګار کوي چې د کورونا ځانګړي دولتي روغتونونه د اکسیجن لپاره له خپلو تولیدي سرچینو کار اخلي او ترڅنګ یې د ورځې دوه سوه بالونه اکسیجن په ډېرې سختۍ سره له خصوصي برخې ترلاسه کوي. اخوا، په هېواد کې د کورونا ویروس د درېیمې څپې په خپرېدو سره د اکسیجن د کمښت په اړه د خلکو اندېښنې

زیاتې شوې دي. په بېلابېلو ولایتونو کې خلک د اکسیجن د کمښت په اړه شکایت لري.
ځینې ناروغ لرونکي وایي، دوی اړ شوي په ډېره لوړه بیه اکسیجن وپیري. دوی زیاتوي چې روغتیا وزارت ناروغانو ته د اکسیجن د برابرولو وس نه لري او تر ډېره خلک خپلو ناروغانو ته اکسیجن برابروي چې د اکسیجن تولیدوونکي شرکتونه هم د دوی له مجبوریته ناوړه ګټه پورته کوي او په لوړه بیه یې پلوري.
آن ځینې ناروغان د اکسیجن د کمښت له امله مړه شوي دي. دغه هېوادوال پر روغتیا وزارت نیوکه کوي چې ددغه راز ورځو لپاره یې کافي اکسیجن نه دی برابر کړی.
د مالوماتو له مخې، د اکسیجن هغه ډبې چې له دې مخکې په ۶۰۰ افغانۍ ډکېدې اوس یې دا شرکتونه په شپږ زره افغانۍ ډکوي. هېوادوال دولتي بنسټونه پر خصوصي برخې په څارنه کې په بې وسۍ تورنوي. که څه هم روغتیا وزارت په هېواد کې د اکسیجن کمښت نه ردوي خو وایي چې په دولتي روغتونونو کې هېڅ یو ناروغ له اکسیجن پرته نه دی پاتې شوی او روغتیایي کارکوونکي کورونایي ناروغانو ته د خدماتو د وړاندې کولو لپاره هڅې کوي.
د روغتیا وزارت سرپرست همداراز د اکسیجن د هغو لسو دستګاوو د لګولو لپاره د هڅو خبر ورکوي چې د یونیسف اداري له خوا افغانستان ته ورکړل شوي او د نړیوال بانګ او ترکیې په مرسته د اکسیجن د څو نورو دستګاوو د پېرلو لپاره ددغه وزارت د پلانونې خبر ورکوي.
د ننه په هېواد کې د اکسیجن د تولید دستګاوو د فعالولو لپاره له هڅو سره په یو وخت، له ایران، تاجکستان او ازبکستانه هرات، کندز او بلخ ولایتونو ته اکسیجن وارېږي او له ایرانه هرات ته د اکسیجن لومړی جوپه رارسېدلې ده.
د عامې روغتیا وزارت سرپرست د کورونا د واکسین برابرولو لپاره د هڅو خبر ورکوي او له خلکو غواړي چې د واکسینو لپاره د روغتونونو په دروازو کې له ګڼې ګوڼې ډډه وکړي او روغتیایي سپارښتنو ته جدي پام وکړي. هغه زیاتوي چې دغه وزارت د لومړیتوبونو له مخې خلکو ته واکسین ورکوي او په دې توګه به ټول وګړي ترې برخمن شي.
د عامې روغتیا وزارت وایي چې ټاکل شوې د جولای میاشتې په دوهمه اونۍ ۴۰۰ دوزه هندي واکسین هېواد ته راورسېږي او امریکا هم غواړي له افغانستان سره د واکسینو په برخه کې مرسته وکړي چې کره شمېر یې تراوسه ددغه هېواد د چارواکو له خوا نه دی اعلان شوی.
له دې سره سره روغتیا وزارت خبرداری ورکوي چې د لوی اختر په ورځو کې ښایي په بازارونو کې د ګڼې ګوڼې او د یو بل کورونو ته په ورتلو سره دا ویروس لا پراخ شي له همدې امله له خلکو غواړي چې روغتیایي سپارښتنو ته جدي پام وکړي.
د ویلو ده چې تراوسه په هېواد کې ۱۰۱ زره تنه په کورونا ویروس اخته شوي چې له دې ډلې څه د پاسه څلور زره تنه مړه شوي او کابو ٦۴ زره نور روغ شوي دي.



# ابراهیم رییسي د ایران ولسمشر شو

◆ د ۸صبح پښتو مجله

د ایرانیو چارواکو د اعلان له مخې، سید ابراهیم رییسي د ٦۱،۹ سلنې رایو په ګټلو سره د نوموړي هېواد د ولسمشر په توګه وټاکل شو. په انتخاباتو کې د هغه بریالي کېدل له تمو لیرې نه و، ډېرې شننونکو باور درلود چې د نوماندانو له نوملړه د علي لاریجاني په لیرې کولو به رییسي بریالي شي. د ایران ولسمشرۍ ټاکنې په داسې حال کې وشوې چې د اقتصادي ستونزو او له حکومته د نارضایتۍ له امله د ټاکنو د تحریم لپاره پراخې هڅې پیل شوې وې.
پر اقتصادي ستونزو سربېره د ایران د سپاه پاسداران له خوا د اوکراینۍ الوتکې نسکورول، د ۱۳۹۸ کال د لاریونونو په بهیر کې د پټرولو د بیو د لوړېدو د سلګونه اعتراض کوونکو وژل او د کورونا ویروس خپرېدل په ټاکنو کې د خلکو د لږ ګډون لاملونه بلل کېږي. یو شمېر ایرانیان په ټولنیزو شبکو او فارسي ژبو رسنیو کې د ویډیوګانو په خپرولو سره د رایو په مرکزونو کې د خلکو کم ګډون ښودلی دی.
د یو شمېر نړیوالو رسنیو د رپوټ له مخې، په وروستیو ټاکنو کې د رایو ورکوونکو شمېر د تېرو دورو په پرتله ډېر کم وو. له بلې خوا، د ایران حکومتي رسنیو او دولتي تلویزیون د رایو په مرکزونو کې د خلکو د تصویرونو په خپرولو په ټاکنو کې د خلکو د پراخ ګډون خبره کړې ده.

# د خوست هوايي ډګر ته لومړنۍ نړیواله الوتنه ترسره شوه

◆ محمد عزیز پردېس

د خوست هوایي ډګر چې رغنیزې چارې یې په بشپړېدو دي او ډېر زر بـه ګټې اخیستو تـه وسپارل شـي، د آریانا افغان هوایـي شـرکت الوتکې لـه متحده عربـي اماراتـو څخـه دغـه ولایت تـه خپلـه لومړنۍ الوتنـه ترسره کړه.

د چارو اداري رئیس محمـود فضلي پـه خپل ټوېټر لیکلي چـې د مرغومـي پـه ۳۱مـه نېټـه د لومړي ځل لپـاره له متحده عربـي اماراتو پـه مستقیم ډول د آریانا افغـان هوایـي شـرکت الوتکـې پـه خپلـه لومړۍ الوتنـه کـې شـاوخوا ۹۰ افغان مسـافر د خوسـت پـه هوایـي ډګر کـې راکښـته کړل.

نوموړي همداراز ویلي چې نور زموږ خواریکښ او سوداګر خوستیان مستقیماً لـه اماراتو خوسـت ته تګ راتګ کولای شـي.

د خوسـت هوایـي ډګـر د رغولـو چارې د افغان حکومت پـه مالـي لګښـت ترسـره شـوې چـې د چارواکـو پـه وینـا ډېـر زر بـه پـه رسـمي توګـه پرانیسـتل شـي.

پـه ورتـه وخت کـې د خوسـت ځایـي اوسـېدونکي او عام وګـړي د دغه هوایـي ډګـر پـه جوړېدو خوښـي څرګنـدوي او وایـي چې هیلـه ده دغه هوایـي ډګـر تـه د نړیـوال هوایـي ډګر نوم ورکړل شـي، ځکـه چې دغه هوایـي ډګـر پـه ټولـو نړیوالـو معیارونو برابر رغول شـوی دی.





---

# نوموتی حماسي سندرغاړی عبدالله مقری وفات شو

◆ د ۸صبح پښتو مجله



د افغانسـتان نوموتـي حماسـي سـندرغاړي عبداللـه مقـري د کورونا ناروغـۍ لـه املـه ژونـد لـه لاسـه ورکړ.

د نومـوړي زوی او ځـوان سـندرغاړي میـر خان په خپله فېسـبوک پاڼه کـې د پـلار د مړینـې خبر تائیـد کړی دی.

څـو ورځـې مخکـې هم رسـنیو خبـر ورکړ چـې عبدالله مقـری د کورونا ناروغـۍ لـه املـه ومړ، خـو څـو شـېبې وروسـته یې بیـا زوی دغـه خبر رد کـړ او ویلـي یـې ؤ چـې نومـوړی د ناروغـۍ پـر بسـتر پـروت او تـر درملنـې لانـدې دی.

عبدالله مقری د هېـواد وتلـی سـندرغاړی بلل کېده چې تـر دې دمه یې سـلګونه سـندرې ویلي او د حماسـي سـندرو په ویلو کې یې خورا شـهرت درلود.

عبدالله مقری د مولـوي عبیدالله زوی و چـې د غزنـي ولایـت په مقر ولسوالۍ کـې زېږېدلی و.

ویـل کېـږي چـې نومـوړي د زده کـړو پـر مهال خپلـو ټولګیوالو تـه سـندرې ویلـې او لـه همـدې املـه زده کـړه تـرې پاتـې شـوه او بالاخره همـدې شـوق او مینـې پـه ۱۳۵۷، ۱۳۵۸ ل کلونـو کـې تـر تلویزونونو او راډیوګانـو ورسـاوه.

دا چـې کورنـۍ یـې مذهبـي اړخ درلـود نو له مخالفتونو سـره مخ شـو؛ خـو ده لـه کورنـي مخالفتونو سـره سـره د سـندرو ویلو تـه دوام ورکړ.

افغانـي موسـیقي او فلکلـور د عبداللـه مقـري خوښـېده او د سـندرو ویلـو تـر څنـګ یـې شـعرونه هـم ویـل. نومـوړي د حماسـي او وطنـي سـندرو د ویلـو لـه املـه خـورا شـهرت درلـود.

# په ننګرهار کې د غواګانو دولتي فارم د ورځې ۴۰۰ لېتره شيدې توليدوي



◆ زمان سهيل ـ ننګرهار

د ننګرهار کانال اړوند د غواګانو په فارم کې د شيدو په توليداتو کې د پام وړ زياتوالی راغلی دی. په فارم کې په اوږدو اخورونو تړلې تولې غواګانې زراعتي دي، شنې شوتلې او نور خوراک يې د کانال له ځمکو دی.

شاوخوا ٦١ کاله مخکې، د کانال اړوند پروژه د سردار محمد داوود خان د واکمنۍ پرمهال د پخوانۍ شوروي په مرسته پيل شوه. د دغه کانال يوه برخه يې د مالدارۍ آمريت دی او اوس مهال په دې فارم کې ۲۱۷ زراعتي غواګانې ساتل کېږي.

د دغه فارم آمر شکرالله نورزي له ۸صبح سره په خبرو کې وويل: «په فارم کې د ۲۸۰ غواګانو د ساتنې ظرفيت موجود دی او په نږدې راتلونکې کې به سل نورې زراعتي غواګانې هم په کې زياتې شي.» په فارم کې يو بل سپين ږيرى چې کټورى نومېږي له تېرو شاوخوا ۳۵ کلونو راهيسې د غواګانو پالنه کوي. د نوموړي مالداري خوښېږي او دومره ورسره بلد شوی، چې په هره غوا يې آن ځانګړی نوم هم ايښی دی.

کټورى بابا وايي: «په دغو غواګانو مې کندهارۍ غوا، امبرسرۍ غوا، توره غوا.... نومونه ايښي دي او سختې راسره بلدې شوې دي، مالداري مې ډېره خوښېږي او ښه په کې خوشحاله يم.» د کانال د مالدارۍ مسؤلينو په وينا، دغه کانال اوسمهال د ورځې شاوخوا ۴۰۰ لېتره شيدو د توليد ظرفيت لري. په دغه فارم کې د غواګانو لپاره ډاکټران هم شته او د ناروغيو پرمهال يې واکسين او درملنه کوي. بهادرخان د فارم اړوند مسؤل ډاکټر دی، هغه وايي چې د ځينو ناروغيو لپاره يې واکسين او د ځينو لپاره نورې لارې چارې موجودې دي.

د همدې دولتي فارم د غواګانو د شيدو قرارداد ښار په کې له هټيوالو سره کيلو په ۳۵ افغانۍ شوی چې ډېر پلور لري.

دغه فارم مسؤلين وايي: که حکومت ورسره مرسته وکړي او شته ستونزې يې حل کړي، نو فارم به لا ډېر توليدات او خلکو ته د کار زمينه برابره کړي.

اوس مهال په ننګرهار کې د «ختيځ لبنيات» په نوم فاريکه فعاليت کوي چې د وطني د غواګانو شيدې له کليو او بانډو را ټولوي، په بازار کې يې پلوري او په دې برخه کې د خلکو اړتياوې پوره کوي.

# د امکاناتو د نشتوالي له امله د هلمند ۵۰ بستريز روغتون د تړل کېدو له خطر سره مخ دی

◆ احمد شاه شاداب

د هلمند ولايت په مرکز لښکرګاه ښار کې د ملکه ثُريا په نوم د مور او ماشوم د روغتيا روغتون فعاليت کوي، خو له تېرو اوو مياشتو راهيسې يې کارکوونکو نه معاش اخيستی او نه هم دغه روغتون د۱۴۰۰ کال لپاره د اړتيا وړ توکو د برابرولو لپاره مالي امکانات لري.

جميله په ملکه ثُريا روغتون کې د صفاکارۍ دنده لري او وايي چې له تېرو اوو مياشتو راهيسې يې معاش ندی اخيستی او له سختو اقتصادي ستونزو سره مخ ده. جميله وايي چې يوازينی زوی يې شل ورځې مخکې په جګړه کې ووژل شو. هغه زياتوي، که يې معاش يو څه نور هم وځنډېږي نو مجبورېږي خپله اوسنۍ دنده پرېږدي او بله دنده پيدا کړي، ځکه د زوی د يتيمانو او کونډې مسووليت پرغاړه لري.

سيد محمد چې په دغه روغتون کې د فارمسي د مدير په توګه دنده ترسره کوي، وايي چې له ۱۳۹۸ کال راهيسې دغه روغتون ته هېڅ ډول درمل او نور د اړتيا وړ توکي نه دي پېرل شوي. نوموړی وايي، له دې مخکې يې د مراجعينو شمېر له ۳۰۰ تر ۳۵۰ تنه و، خو اوس د درملو د کمښت او يو لړ نورو محدوديتونو له امله له ۱۵۰ تر ۱۲۰ تنو ته راکم شوی دی. سيد احمد زياتوي: موږ په روغتون کې هېڅ درمل نه لرو آن د مور او ماشوم لپاره اړين درمل نه لرو له همدې امله د هرې ورځې په تېرېدو سره مو د ناروغانو شمېر کمېږي.

د روغتون آمر ډاکټر محمد ولي همت اړوندو کارکوونکو ته له اوو مياشتو راهيسې د معاشاتو نه ورکول تاييدوي او وايي چې د ۱۴۰۰ کال لپاره دغه روغتون ته درمل او نور اړتيا وړ توکي نه دي برابر شوي.

همت زياتوي چې د دغو ستونزو د اوارې لپاره د هلمند د عامې روغتيا رياست د دغه روغتون په اړه روغتيا وزارت ته يوازې د کارکوونکو د معاشونو په اړه يو مکتوب استولی دی.

نوموړي همداراز زياته کړه سره له دې چې د معاشونو ځنډ د کارکوونکو خدماتي برخې ته زيان رسولی د درملو نشتوالی هغه ستونزه ده چې هره ورځ لسګونه ناروغان بې درملو رخصتېږي.

په ورته وخت کې د هلمند د عامې روغتيا رئيس عبدالاحدحازم هم په دغه روغتون کې ستونزې مني، خو نوموړی وايي چې ددغو ستونزو اساسي لامل د ولسمشر له حکم سره سم  په عادي بوديجه کې د N T A پروژو د ادغام بهير و چې تازه د هبواد په کچه له ۴۱ روغتونونو څخه يوازې د دريو روغتونونو تشکيل په عادي بوديجه کې مدغم شوی چې د ملکې ثريا روغتون هم پکې شامل دی.

حازم وايي چې د دې روغتون د خدماتي پاينښت په پار يې تر يو بريده له بېلابېلو روغتيايي بنسټونو هراړخيز امکانات برابر کړي دي. هغه زياته کړه چې د وزارت له پرېکړې سره سم به د نهو مياشتو معاشونه له N T A پروژو څخه او وروسته به بيا له عادي بوديجې څخه اجرا کېږي.

# د وتلي سیاستوال عثمان کاکړ مرموزه وژنه او غبرگونونه



◆ محمد عزیز پردېس

وتلـی پښـتون سیاسـتوال او د پښـتونخوا ملـي عوامـي گونـد مخکښ غـړی عثمـان کاکـړ د روان کال د غبرگولـي میاشـتې پـه ۲۸مـه د جمعـې پـه ورځ سخت ټپـي شـو او د ژورو ټپونـو له امله یـې د کراچۍ اغاخـان روغتـون کـې خپـل ژونـد لـه لاسـه ورکـړ.

د نومـوړي د ټپـي کېـدو پـه اړه ضد او نقیض ادعـاوې کېږي. پـه لومړیو کـې داسـې راپورونـه خپاره شـول چـې گواکـې نومـوړی پـه خپـل کور کـې د غورځېدو له امله سر یې دېوال سره لگېدلی ؤ او شـدیده ضربه یـې لیدلـې وه. خـو د عثمـان کاکـړ د کورنۍ غړي، نږدې کسـان یې او د پښـتونخوا فعالیـن بیـا وایي چې نوموړی د پاکسـتان اسـختباراتو له لوري پـه قصدي ډول ټپي شـوی او همدغـه ټپي کېدل یـې د مړینې لامل وگرځېد.

د پښـتون ژغورنـې غورځنـگ مخکښ غړي محسن داوړ د عثمان کاکړ لـه مړینـې وروسـته پـه خپـل ټوېټـر ولیکل، داسـې ښـکاري چـې هغه قتـل شـوی دی. داوړ زیاتـه کـړې وه چـې «د عثمـان کاکـړ ورور منـان کاکـړ سره پـه اړیکـه کـې وم او ډاکټرانـو سره مـې هم خبرې وشـوې، د هغـوی د ځرگندونـو مطابـق د عثمـان کاکـړ پـه سر کـې ژور ټـپ د پرېوتـو لـه امله نه، بلکې ښـه کلک برید پرې شـوی او داسـې ښـکاري چې هغـه قتـل شـوی. مونږ د عثمـان لالا له کورنۍ سره ولاړ یـؤ او د پېښـې د پـوره پلټنې غوښـتنه کوو.»

ویـل کېږي چې عثمان کاکـړ لـه خپلې مړینـې څـه مـوده مخکـې پـه خپلـو ځرگندونـو کـې ویلـي ؤ چـې د پاکسـتان اسـتخبارات دې د افغانسـتان پـه مسـائلو کـې لاسـوهنه ودروي. نوموړي همـداراز دا هم ویلـي ؤ چـې کـه پـر ده یـا هـم د کورنیـو غـړو باندې یـې څه وشـي، نو مسـؤلیت یـې د پاکسـتان اسـتخباراتو پـه غـاړه دی.

د کاکـړ مرموزې مړینـې د افغانسـتان او پښـتونخوا پـه شـمول د نـړۍ پـه مختلفو سیمو کـې گـڼ غبرگونونـه راوپارول.

افغان ولسمشر محمد اشرف غنـي، مخکینـي ولسمشر حامد کرزي، د ملـي امنیـت شـورا سـلاکار حمدالله محب، د بهرنیـو چـارو وزیر محمد حنیف اتمر او د سرحدونو او قبایلو چـارو وزیر محب الله صمیـم پـه گـډون گڼـو افغـان چاراکـو او سیاسـتوالو د عثمـان کاکـړ مړینـه سـتره ضایعـه وبللـه او لـه نومـوړي څخـه یـې د افغانـانو او پـه ځانگـړي ډول د پښـتنو د رسا غـږ پـه توگـه یادونـه وکـړه.

ولسمشر غنـي پـه یـوه پیغام کې عثمان خان کاکړ د هر ډول تشدد، ظلـم او جبـر پـر وړانـدې د خپلو ولسـونو او پـه ځانگـړي ډول د مظلومو او محکومـو خلکـو رسـا غـږ وبلـه او دا یـې د ټولـو پښـتنو لپـاره سـتره ضایعـه وبللـه.

د ملـي امنیـت شـورا سـلاکار حمـد الله محـب وویـل: کـه څـه هـم د عثمـان کاکـړ تشـه بـه ډکـه نه شـي، مگـر د هغـوی د ارمانونـو او هیلو لاره بـه هېڅکلـه تشـه نه شـي.

تېـره ورځ ناوختـه د افغانسـتان ملـي امنیـت شـورا اعـلان وکـړ، چـې افغـان دولـت غوښـتل د ملـي امنیـت شـورا یـو پـلاوی د عثمـان کاکړ جنـازې تـه واسـتوي خـو د پاکسـتان حکومـت یـې مخـه نېولـې ده.

د دغـې شـورا څخـه پـه خبرپاڼه کـې راغلي چې غوښـتل یـې په خپل اسـتازیتوب د ملـي امنیـت د سـلاکار مرسـتیال سـرور احمـدزی او د قبایلـو چـارو وزیـر محـب الله صمیـم د عثمـان کاکـړ پـه جنـازه کـې د گـډون لپـاره واسـتوي؛ خـو پاکسـتان یـې مخنیوی کـړی دی.

د عثمـان خـان کاکـړ جنازه پـرون چهارشـنبه د نوموړي پلرنـي ټاټوبي «مسـلم باغ» کې د زرگونه کسـانو په گډون سره ترسره شـوه.

د پلازمېنـې کابـل پـه شـمول مختلفـو ولایتونـو کـې هـم د عامـو خلکو لـه خـوا د عثمـان کاکـړ غایبانـه جنازې ترسـره شـوې .


عثمـان کاکـړ پـه ۱۹۶۱ کال کـې د بلوچسـتان د کلا سـیف الله پـه مسـلم بـاغ کـې دې نـړۍ تـه سـترگې غړولـې وې او د ۲۰۲۱ کال د جـون پـه ۲۱مـه نېټـه ومړ.

هغـه د پښـتونخوا ملـي عوامـي گونـد او محمـود خـان اڅکـزي تـر مشرۍ لانـدې د پښـتنو لپـاره سیاسـت کاوه او د پښـتنو او افغانانو په اړه بـه یـې غـږ پـه ډاگـه پورتـه کاوه.

کاکـړ د پاکسـتان د سـنا مجلس غـړی پاتې شـوی ؤ، د خپـل گوند تر څنـگ د پښـتون ژغورنـې غورځنگ غـړی هم ؤ، مدنـي فعالیت یې هم کاوه او د پښـتنو د حقونـو لپـاره یې هلـې ځلې کولې.

کاکـړ پـه ۱۹۸۷ کال کـې د کوټـې د لاء پوهنتـون څخـه د قانـون پـه برخـه کـې د فراغـت سـند ترلاسـه کـړ او د پوهنتـون لـه وختـه یـې سیاسـت تـه مخـه کـړې وه. پـه ۱۹۹۶ کال کې هغه د پښـتونخوا ملي عوامـي گونـد سره یـو ځای شـو او پـه ۲۰۱۵ کال کې بیا د پاکسـتان د سـنا مجلـس غړی شـو.

عثمـان کاکـړ څـو ورځې وړانـدې په یوه مرموزه پېښـه کې سخت ټپي شـو، چـې بیا وروسـته د کراچۍ اغاخـان روغتـون تـه ولېږدول شـو او هلتـه یـې د ژورو ټپونـو لـه امله سـاه ورکـړه.



**وتلی سیاستوال او د پښتونخوا ملي عوامي گوند مخکښ غړي عثمان کاکړ د ژورو ټپونو له امله خپل ژوند له لاسه ورکړ**

افغان چارواکو او پښتنو سیاستوالو د نوموړي مړینه لویه ضایعه وبلله او دی یې د پښتنو له حقونو دفاع کوونکی یاد کړ. کورنۍ یې وایي چې نوموړی «وژل» شوی دی.



عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.

Hasht e Subh Magazine
Yesterday's Narrative | Today's Mirror | Tomorrow's Hope




**د خوست هوايي ډګر ته لومړنۍ نړيواله الوتنه ترسره شوه**

د آريانا افغان هوايي شرکت الوتکې له متحده عربي اماراتو خوست ته الوتنه ترسره کړه. د دغه هوايي ډګر رغنيزې چارې په بشپړېدو دي او ډېر ژر به ګټې اخيستو ته وسپارل شي.

خوستوال ددغه هوايي ډګر جوړېدو ته خوښ دي، خو غوښتنه کوي چې دغه هوايي ډګر ته دې د نړيوال هوايي ډګر نوم ورکړل شي.



**د کابل په شاه و عروس بند کې د اوبو زېرمه کول پيل شول**

دغه بند د هېواد له سترو بندونو شمېرل کېږي او د کابل په شکردرې ولسوالۍ کې موقعيت لري. تمه ده دغه بند په نږدې راتلونکي کې پرانيستل شي.